په $x_1 = \frac{5}{3} + \sqrt{\frac{19}{3}}$ او $x_2 = \frac{5}{3} - \sqrt{\frac{19}{3}}$ ځایونو کې پراته تانجنتونه شته.

د y کواوردیناتو شمیرنه

$$f(x_1) = f\left(\frac{5}{3} + \sqrt{\frac{19}{3}}\right) \approx f(3{,}12) \approx -4{,}06 \qquad \Rightarrow \underline{\underline{P_1(3{,}12 \mid -4{,}06)}}$$

$$f(x_1) = f\left(\frac{5}{3} - \sqrt{\frac{19}{3}}\right) \approx f(0{,}214) \approx 8{,}21 \qquad \Rightarrow \underline{\underline{P_2(0{,}214 \mid 8{,}21)}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ت –

د $f(x) = x^3 - 5x^2 + 2x + 8$ محور غوڅتکي

$$P_y : f(0) = 8 \Rightarrow P_y(0|8)$$

صفرځایونه

لاني الماني: لومړی صفرځای

$$f(x) = 0 \Leftrightarrow x^3 - 5x^2 + 2x + 8 = 0$$

$$\begin{array}{r|rrrr|l} & 1 & -5 & 2 & 8 & \\ x=1 & \downarrow & 1 & -4 & -2 & \\ & 1 & -4 & -2 & 6 & \Rightarrow x_1 = -1 \text{ ist Nullstelle} \\ \hline & 1 & -5 & 2 & 8 & \\ x=-1 & \downarrow & -1 & 6 & -8 & \\ & 1 & -6 & 8 & 0 & \end{array}$$

پاتې یا پاتې پولینومونه: $x^2 - 6x + 8 = 0$

$$p = -6\ ;\ q = 8 \Rightarrow D = \left(\frac{p}{2}\right)^2 - q = 9 - 8 = 1 \Rightarrow \sqrt{D} = \sqrt{1} = 1$$

$$x_{2/3} = -\frac{p}{2} \pm \sqrt{D} \quad \left| \begin{array}{l} x_2 = 3 + 1 = 4 \\ x_3 = 3 - 1 = 2 \end{array} \right.$$

$$P_{x1}(-1|0)\ ;\ P_{x2}(4|0)\ ;\ P_{x3}(2|0)$$

ټ-

$$f(x) = x^3 - 5x^2 + 2x + 8$$

| x | −1,5 | −1 | −0,5 | 0 | 0,21 | 1 | 2 | 3 | 3,12 | 4 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| f(x) | −9,6 | 0 | 5,6 | 8 | 8,21 | 6 | 0 | −4 | −4,06 | 0 |

(c) ketabton.com: The Digital Library






خلورم: الف –

$$f(x) = -\frac{1}{288}x^3 + \frac{1}{16}x^2 \Rightarrow f'(x) = -\frac{1}{96}x^2 + \frac{1}{8}x$$

د توپ ماکسيمال جګوالی د الوتني لار جګټکی دی، له دې امله يو ټکی دی، د پراته تانجنت سره.

$$f'(x) = 0 \Leftrightarrow -\frac{1}{96}x^2 + \frac{1}{8}x = 0$$

$$\Leftrightarrow x\left(-\frac{1}{96}x + \frac{1}{8}\right) = 0 \Rightarrow x_1 = 0$$

$$-\frac{1}{96}x + \frac{1}{8} = 0 | + \frac{1}{96}x$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\Leftrightarrow \frac{1}{8} = \frac{1}{96}x \,|\cdot 96$$

$$\Leftrightarrow 12 = x \Rightarrow x_2 = 12$$

$$f(12) = -\frac{1}{288}\cdot 12^3 + \frac{1}{16}\cdot 12^2 = 3 \Rightarrow P(12\,|\,3)$$

جګټکی دی.

توپ یو د درې متره ماکسیمال جګوالي ته رسیږي. او له دې امله د شوټټکي یا وهلټکي څخه 12 متره لرې دی.

ب–

$$f(x) = -\frac{1}{288}x^3 + \frac{1}{16}x^2$$

د صفرځایونه غواړو پیدا کړو.

$$f(x) = 0 \Leftrightarrow -\frac{1}{288}x^3 + \frac{1}{16}x^2 = 0$$

$$\Leftrightarrow x^2\left(-\frac{1}{288}x + \frac{1}{16}\right) = 0 \Rightarrow x_{1/2} = 0$$

$$-\frac{1}{288}x + \frac{1}{16} = 0 \,|+\frac{1}{288}x$$

$$\Leftrightarrow \frac{1}{16} = \frac{1}{288}x \,|\cdot 288$$

$$\Leftrightarrow \frac{288}{16} = x \Rightarrow x_3 = 18$$

توپ د وهلټکي څخه په 18 متره لرېوالي بیرته ځمکې ته رالویږي

پ – $f(x) = -\frac{1}{288}x^3 + \frac{1}{16}x^2$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

د شوټتکي ځخه په نهه متره لرې د توپ جګوالی دې پیدا شي.

$$f(9) = -\frac{1}{288}\cdot 9^3 + \frac{1}{16}\cdot 9^2 \approx 2{,}53$$

توپ د مقاومت دیوال ځخه چې دوه متره لرې دی په 2,53 m جګوالي پورته الوزي.

ت –

$$f(x) = -\frac{1}{288}x^3 + \frac{1}{16}x^2$$

غواړو ځاي پیدا کړو چې هلته توپ الوتنه دوه متره جګوالی لري.

$$f(x) = 2 \Leftrightarrow -\frac{1}{288}x^3 + \frac{1}{16}x^2 = 2$$

د ازمائښت له لارې حل:

$$f(15) \approx 2{,}344$$
$$f(15{,}5) \approx 2{,}086$$
$$f(15{,}6) \approx 2{,}028$$
$$\boxed{f(15{,}65) \approx 1{,}998}$$

ازاد شوټ یا ازاد وهل له۱،۹۹۸

پنځم: الف –

$$f(x) = x^3 \qquad \lim_{\Delta x \to 0}\frac{f(x_0+\Delta x) - f(x_0)}{\Delta x}$$

$$f(x_0+\Delta x) = (x_0+\Delta x)^3 = x_0^3 + 3x_0^2\cdot\Delta x + 3x_0\cdot(\Delta x)^2 + (\Delta x)^3$$

$$f(x_0) = x_0^3$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\lim_{\Delta x\to 0}\frac{f(x_0+\Delta x)-f(x_0)}{\Delta x}=\lim_{\Delta x\to 0}\frac{x_0^3+3x_0^2\cdot\Delta x+3x_0\cdot(\Delta x)^2+(\Delta x)^3-x_0^3}{\Delta x}$$

$$=\lim_{\Delta x\to 0}\frac{3x_0^2\cdot\Delta x+3x_0\cdot(\Delta x)^2+(\Delta x)^3}{\Delta x}=\lim_{\Delta x\to 0}\frac{\Delta x\left(3x_0^2+3x_0\cdot\Delta x+(\Delta x)^2\right)}{\Delta x}$$

$$=\lim_{\Delta x\to 0}3x_0^2+\underbrace{3x_0\cdot\Delta x}_{\to 0}+\underbrace{(\Delta x)^2}_{\to 0}=3x_0^2$$

ب –

$$f(x)=\frac{1}{3}x^2 \qquad \lim_{\Delta x\to 0}\frac{f(x_0+\Delta x)-f(x_0)}{\Delta x}$$

$$f(x_0+\Delta x)=\frac{1}{3}(x_0+\Delta x)^2=\frac{1}{3}\left(x_0^2+2x_0\cdot\Delta x+(\Delta x)^2\right)$$

$$f(x_0)=\frac{1}{3}x_0^2$$

$$\lim_{\Delta x\to 0}\frac{f(x_0+\Delta x)-f(x_0)}{\Delta x}=\lim_{\Delta x\to 0}\frac{\frac{1}{3}\left(x_0^2+2x_0\cdot\Delta x+(\Delta x)^2\right)-\frac{1}{3}x_0^2}{\Delta x}$$

$$=\lim_{\Delta x\to 0}\frac{\frac{1}{3}\left(2x_0\cdot\Delta x+(\Delta x)^2\right)}{\Delta x}=\lim_{\Delta x\to 0}\frac{\frac{1}{3}\Delta x(2x_0+\Delta x)}{\Delta x}=\lim_{\Delta x\to 0}\frac{1}{3}\left(2x_0+\underbrace{\Delta x}_{\to 0}\right)=\frac{2}{3}x_0$$




که $P_1$ و $P_0$ ته ورنږدې کيږي، نو د نوي سيکانت جګوالي به په دې ځاي کې د تابع جګوالی د $P_0$ په ټکي کې وي، چې بايد پيدا شي. که دا کار په کلکه مخ ته يووړل شي او ټکی $P_1$ تل زيات و $P_0$ ټکي ته نږدې شي، نو د پولې ځاي په ځير

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه کربنه لاس ته راځي، دا د تابعګراف فقط په ټکي $P_0$ کې لمسوي. په ټکي $P_0$ کې د تابعګراف تانجنت. د تانجنت جګوالی په دې ټکي$P_0$ کې ټیک د تابع جګوالی په$P_0$ کې. شیپږم:

الف – حجم یا ډکی : V = l.b.h

$$\left.\begin{array}{l} l = 26 - 2x \\ b = 26 - 2x \\ h = x \end{array}\right| \Rightarrow V(x) = (26-2x)(26-2x)x = 4x^3 - 104x^2 + 676x$$

د کوټۍ حجم یا ډکی د یوه دریمې درجې ترم له لارې ټاکل کیږي:

$$V(x) = 4x^3 - 104x^2 + 676x$$

ب – $V(x) = 4x^3 - 104x^2 + 676x$

ارزښت جدول:

| x | 0 | 2 | 4 | 6 | 8 | 10 | 12 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| f(x) | 0 | 968 | 1296 | 1176 | 800 | 360 | 48 |



(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ماکسیمال حجم یا ډکی په جګتکي کې، له دې لاس ته راځي: پروت یا افقي تانجنت.

$$V(x) = 4x^3 - 104x^2 + 676x \Rightarrow V'(x) = 12x^2 - 208x + 676$$

$$V'(x) = 0 \Leftrightarrow 12x^2 - 208x + 676 = 0$$

د دې مربع مساوات حل څخه لرو: $x_1 = 13; x_2 = 13/3 \approx 4,33$

$$V\left(\frac{13}{3}\right) \approx 1302$$

د x=13/3 cm له ټاکلو د کوتۍ حجم یا ډکی $v \sim 1302m^3$ ماکسیمال دی.

حجم یا ډکی دی:

اووم:

الف \ ب



(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$K(x) = x^3 - 9x^2 + 40x + 94 \Rightarrow K'(x) = 3x^2 - 18x + 40$$

ارزښتجدول

| x | 0 | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| K'(x) | 40 | 25 | 16 | 13 | 16 | 25 | 40 | 61 | 88 |

پ –

د K'(x) ګراف یو پارابول دی، هغه چې د لګښت زیاتوالی ښایې. د لګښت خورا کم زیاتوالی د پارابول له ککرټکي یا رآس ټکي سره لاس ته راځي.

$$K(x) = x^3 - 9x^2 + 40x + 94 \Rightarrow K'(x) = 3x^2 - 18x + 40 \Rightarrow K''(x) = 6x - 18$$

د پارابول په ککرټکي کې پروت تانجنت.

$$K''(x) = 0 \Leftrightarrow 6x - 18 = 0 \Rightarrow x = 3$$
$$K'(3) = 13$$

د x = 3 ناروغانو ګڼون یا تعداد ( 300 ناروغان) د لګښت زیاتوالی له نورو خورا کم دی. K'(3) = 13 په دې معنا چې 130 € / Tag په روځ . یا په بل ډول ویل شوي: که په دې ناروغانو ته یو بل راشي، دا په دې معنا چې x = 3,01 . د یوه ورزیات ناروغ لپاره لګښت دی: K(3,01) - K(3) = 160,13 - 160 = 0,13

که دا ارزښتونه له 1000 سره ضرب شي، نو د روځې لاس ته ترې 130 €/Tag یورو راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انتیګرالشمیرنه

## انتیګرالشمیرنې لپاره پیل راوړنې

موږ د ځمککچپوهنې یا هندسې له لارې بلد یو چې د کرښو رابند تنونو یا جسمونوسطحه او ډکی یا حجم څنګه وشمیرو.
که یوه سطحه له ګړې (-کرښې ) رابنده وي، نو څه باید وشي؟
دا مو انتیګرال شمیرنې ته رابولي.

پیلبیلګه

دا څیره شوی چمن خرڅیږي. له پورته لور د ویالې را بند دی او له ښې لور د ګاونډي ځمکه ده او کیڼ لور ته کوڅه او له کښته لور هم د یوې کوڅې را بند دی.

ددی لپاره چې چمن وپلورل شي، باید سطحه وپیژندل شي.

د پلورونکی لپاره سطحه باید نزدې پوره مګر هیڅکله کمه ونه شمیرل شي. اخستونکی هم د ځان لپاره فکر کوي، چې پیسې باید ورکړي، خو هیڅکله ځمکه د اصل څخه زیات ونه شمیرل شي.




وروسته له دې چې رانیوونکي او پلورونکي د چمن سطحه معلومه کړه، دواړه د پیسو په تادیه سره یوځای کیږي او په دې هکله موافقه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



$f(x) = \frac{1}{400}x^2 + 200$ د تابع مساوات لري.

د اخستونکي له پاره ممکنه حل.

هره ټوټه(مستطيل پټی) 50m سره وره ده او په رسم کې ورکړشوی جګوالی لري. د ټولو پټيو، سطحه يو ځای شميرو.

$$200 \cdot 50 = 10000$$
$$206 \cdot 50 = 10300$$
$$225 \cdot 50 = 11250$$
$$256 \cdot 50 = 12800$$
$$300 \cdot 50 = 15000$$
$$256 \cdot 50 = 12800$$
$$425 \cdot 50 = 21250$$
$$506 \cdot 50 = 25300$$
$$\underline{123700}$$

ځمکه په لاندې ډول په اوږدو ټوټو(پټيو ) ټوټه کيږي




د اخستونکي لپاره ټوله سطحه نږدې $123700\ m^2$ ده.

د پلورونکي له پاره ممکنه حل:

هره ټوټه(پټی) 50m سورلري او په رسم کې ورکړشوی جګوالی لري. د ټولو پټيو سطحه يوځای شميرو.

$$206 \cdot 50 = 10300$$
$$225 \cdot 50 = 11250$$
$$256 \cdot 50 = 12800$$
$$300 \cdot 50 = 15000$$
$$356 \cdot 50 = 12800$$
$$425 \cdot 50 = 21250$$
$$506 \cdot 50 = 25300$$
$$600 \cdot 50 = 30000$$
$$\underline{143700}$$



(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................................

دا د پلورونکي له پاره د ټولي سطحي مساحت نږدي **$143700\ m^2$** دى.
اخستونکى او پلورونکى بايد د دواړو قيمتونو ،،منځ،، ته راشي، دا په دې معنا چې دواړه د قيمتونو منځ ارزښت يو بل سره ومني. يعني د سطحې منځ ارزښت، چې دى:

$$\frac{123700\ +143700}{2} = 133700\ unt^2$$

دا به وروسته د ټاکلي انتيګرال برخه (په مخ) کې وشميرو، چې رينښتونى ارزښت يې $133333\bar{3}\,m^2$ دى.

د اخستونکي په بيلګه کې دا ډول شميرنه ،،**لاندنى جمعي جوړول**،، بلل کيږي.
د پلورونکي په بيلګه دا ډول شميرنه،، **پورتنى جمعي جوړول**،، بلل کيږي.
دا د سطحي رينښتونى ارزښت يو چيرته په دا منځ کې پروت دى.
بايد ددي له پاره يوه لار پيدا کړو، چي رښتونى ارزښت ترې لاس ته راشي. ددې کار لپاره لږ نوره د چمتووالي لار شته.

## سطحه او لومړنى تابع:

سطحې تابع ته ترمخ راوړنه:

| | |
|---|---|
| د تـــابع $f(x) = a_1 x$ ګـــراف پـــه کـــارتيزي وضـعيه سيســتم ( پـروت ولاړسيسـتم) پـه سرچينه کې يوه کرښه انځوروي.<br>يو تـابع غـواړو پيـدا کـړو، چـې د ګـراف او x -محور ترمنځ، د $x_0$ په واکوالي يا تابعيت کې سطحه په ګوته کوي.<br>دا چې دا جوړه شوې سطحه يو مثلث دى، نو حل يـې د مثلث د سطحې فرمول په مرسته $A = \frac{g \cdot h}{2}$ ساده پيدا کيږي:<br>زموږ د مسألي لپاره متحوله داسې تغيرو و:<br>$A \to F(x_0);\ g \to x_0;\ h \to f(x_0) = a_1 x_0$ | <br><br>$F(x_0) = \frac{x_0 \cdot f(x_0)}{2}$<br>د $f(x_0) = a_1 x_0$ ســره پــه لانــدې ډول دى:<br>$F(x_0) = \frac{x_0 \cdot a_1 x_0}{2} = \frac{a_1}{2} x_0^2$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



..............................................................................................

تابع $F(x_0)$ د ګراف او د x - محور ترمنځ سطحه د $x_0$ په واکوالي(تابعیت) کې تشریح کوي یا ښايي. موږ دا تابع د **سطحې تابع** بولو.

**د سطحې پرابلم:**

پخوانيو يونانيانو ته دا د منحني څخه رابندې سطحې شميرلو اصول معلوم وو. دا دمشتق شميرنه، چې موږ ورسره اوس سر او کار لرو، ډېر وروسته (د اوه لسمې پيړۍ‌پاي کې) د طبيعي علومو پوهانو لايبنيڅ او نيوټون له خوا رامنځ ته ( اختراع) شو.




هره له کږوکرښو رابنده سطحه په پای ډېرو پلونو(قدمونو)، چې په هغې کې فقط يوه يوه کږه کرښه رامنځ ته کيږي. نورې ټولې رابندوني سيده کرښيزې دي. هره يوه د سطحې برخه( د بيلګې په توګه دلته $\mathbf{A_2}$ ) کېدی شي د وضعيه قيمتونو سيستم کې د يوې سطحې په څېر انځور شي، چې د کږې کرښې او پروت محور ترمنځ پرته وي. که له کږوکرښو رابند ګراف د f(x) متمادي تابع وي، نو پوښتنه رامنځ ته کيږي، چې ايا يو تابع شته چې د افقي(پروت) محورارزښت $x_0$ په سطحه $F(x_0)$ تنظيم کړي، لکه په پيلبېلګه کې؟ که داسې يو تابعF شتون ولري، او سطحه $F(x_0)$ چې د $x_0$ افقي محورارزښت تنظيم وي، نو بايد د افقي( پروت) محور ارزښت $(x_0+\Delta x)$ په سطحه $F(x_0+\Delta x)$ باندې تنظيم کړای شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوه څلورضلعي( مستطیل) کې د سطحې رابندول:
یا د سطحئ په کوتیو کې بندول:

| | | |
|---|---|---|
|   د منحني لاندې په نخښه شوې سطحه له ریښتونې سطحې څه کوچنۍ ده. |   $F(x_0+\Delta x)$ ریښتونې سطحه ده. |   د منحني لاندې په نخښه شوې سطحه د ریښتونې سطحې څخه لویه ده |

که د سطحې پټې ( یا کوچنې مستطیلونه)هرڅومره کوچنې شي، په همغه اندازه د اصلې سطحې د مساحت څخه یې توپیر کمیږي.
دا اړودوالی د ریاضیاتو له مخې په لاندې توګه فرمول بندي کیدی شي:

| | | |
|---|---|---|
| $F(x_0)+f(x_0)\cdot\Delta x$ | $F(x_0+\Delta x)$ | $F(x_0)+f(x_0+\Delta x)\cdot\Delta x$ |

دا مو دې لاندې نابرابرونونویا نامساواتو ته راڅوي

$$\begin{array}{lcccl} F(x_0)+f(x_0)\cdot\Delta x & \le & F(x_0+\Delta x) & \le & F(x_0)+f(x_0+\Delta x)\cdot\Delta x \quad | F(x_0) \\ \Leftrightarrow f(x_0)\cdot\Delta x & \le & F(x_0+\Delta x)-F(x_0) & \le & f(x_0+\Delta x)\cdot\Delta x \quad |:\Delta x \\ \Leftrightarrow f(x_0) & \le & \dfrac{F(x_0+\Delta x)-F(x_0)}{\Delta x} & \le & f(x_0+\Delta x) \end{array}$$

لیمیټ یې نیسو( پوله یې پیدا کوو):

$$\begin{array}{ccccc} \lim\limits_{\Delta x\to 0} f(x_0) & \le & \lim\limits_{\Delta x\to 0}\dfrac{f(x_0+\Delta x)-f(x_0)}{\Delta x} & \le & \lim\limits_{\Delta x\to 0} f(x_0+\Delta x) \\ f(x_0) & \le & F'(x_0) & \le & f(x_0) \\ f(x_0) & \le & F'(x_0) & = & f(x_0) \end{array}$$

نو لرو: $\underline{\underline{F'(x_0)=f(x_0)}}$

دا په دې معنا، چې د سطحې F(x) مشتق د کږې کرښې د تابع ارزښت $f(x_0)$ سره په $x_0$ ځای کې برابر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ ليکو:

$$F'(x_0)=\frac{dF(x_0)}{dx}=f(x_0) \quad \text{يا} \quad \boxed{F'(x)=\frac{dF(x)}{dx}=f(x)}$$

که موږ بريالي شو، داسي يو تابع F(x) پيداکړو چې مشتق يې د رابندې کړې f(x)تابع وي، نو F(x) د سطحې تابع دی.
که موږ يو تابع د لومړني تابع څخه رابيل کړويعني مشتق يې ونيسو، نو دا مشتق کول بولو. د يوې سطحې تابع پيدا کول په روښانه توګه ددې کړنلارې برعکس دی.

سرې کړی شي فورمال ووايي:
د يوې سطحې مساحت تابع، چې پيداکړو، دا معنا لري چې انتيګرالول يې شميرو.
د يوه ساده توان تابع په بيلګه د احساس له مخې يوه لار پيداکيدی شي، چې دا څنګه ايتيګرالوي.

توانتابع :

$$f(x)=x^3 \quad \Rightarrow f'(x)=3\cdot x^{3-1}=3x^2$$

مشتق په دې معنا چې: اکسپوننت په يو کميږي او پوتنځتابع د زاړه پوتنځ سره ضربيږي.
انتيګرالونه (زياتونه ياورګډونه) په دې معنا چې: اکسپوننت په يو جګيږي اوپوتنځتابع په نوي اګسپوننت وېشل کيږي.

دا همدا اوس ازمايو:

پوتنځتابع:

$$f(x)=3x^2 \quad \Rightarrow F(x)=\frac{3}{2+1}x^{2+1}=\underline{\underline{x^3}}$$

تابع F(x) د f(x) بنسټتابع (لومړنی تابع يا ساده تابع) بلل کيږي، ځکه چې f(x) له F(x) څخه لاس ته ارځي يا را پيداکيږي يا راځيږي.

## ناټاکلی انتيګرال

(c) ketabton.com: The Digital Library



..........................................................................................

و به ګورو، چې نا ټاکلی انتيګرال د لومړنی تابع لپاره بل نوم دی.

که ديوې ورکړ شوې f(x) تابع F(x) لومړنی تابع، يعنې F(x) وپېژنو، نو د يوې ثابتې c د ور جمع کولوسره د f(x) د ټولو لومړنيو توابعو سټ G لاسته راوړو( c په خوښه يو حقيقي عدد دی).
موږ د f(x) تابع د F(x) لومړنی تابع ټاکنه يا اينتګرلونه هم بولو او ددې له پاره ليکو:

$$\frac{dF}{dx}=f(x) \quad \Leftrightarrow \quad dF(x)=f(x)dx \quad \Leftrightarrow \quad F(x)=\int dF(x)=\int f(x)dx$$

نو لرو : $F(x)=\int f(x)\,dx$

دا تراوسه فورمال ليکندود وو. اوس دا ژوند ته رابولو.
موږ لومړنی توابع پلټو

بيلګه:
لومړنی تابع F(x) دې پيدا شي، چې مشتق يې f(x) = 2x دی.
قاعده داسې ده $F(x)=\int f(x)dx=\int 2x\,dx$

موږ ازمايو:
$F(x)=x^2$ ځکه چې $F'(x)=2x=f(x)$
$F(x)=x^2+2$ ځکه چې $F'(x)=2x=f(x)$ . په ټوليزه توګه باور لري:
$F(x)=x^2+C$ ځکه چې په هرحالت کې لرو: $F'(x)=2x=f(x)$
دواړه توابع په ثابت غړي کې يو له بل توپير لري. دوی همغه مشتق لري، ځکه چې د مشتق سره
هغه ثابت عدد له منځه ځي. له دې امله بايد دې خپلې لار ته تغير ورکړو.
قاعده(لار): باور لري: $\boxed{\int f(x)\,dx=F(x)+C}$
د لومړنيو توابعو سټ( ډېری)

## د بنسټ توابعو لومړني توابع

بيلګه ښايي، چې د تابع f(x) لپاره نه يواځې يو لومړنی تابع بلکې ناپای ډېر توابع شته، چې يوائې ثابت عدد کې يو له بل سره توپير لري، چې دا د f(x) د لومړنييو توابعو سټ بولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګه

یو لومړنۍتابع $F(x)$ دې پیدا شي، چې د هغه مشتق $f(x) = 3x^2 + 2$ وي.

$F(x) = x^3 + 2x + C$ ، ځکه چې $F'(x) = 3x^2 + 2 = f(x)$

د ټولو لومړنیو توابعو ډېرى دې د منحنیو ډلې په څیر انځور شي، چې فقط ثابتو عددونو کې یو له بل توپیر لري.

ددې لپاره دې د ګرافونو لاندې دوه بېلګې وکتل شي.

$F(x) = x^3 + 2x + C$ $\qquad$ $F(x) = x^2 + C$







## تمرینونه

لومړنی تابع پیداکړی

لاندی$f(x)$ توابعو ته لومړنی توابع$F(x)$ پیداکړی

اول - $f(x) = x^2$ دویم - $f(x) = 2x^2$ دریم - $f(x) = x$

څلورم - $f(x) = -2x$ پنځم - $f(x) = \frac{1}{2}x^2$ شپږم - $f(x) = -\frac{1}{4}x$

اوم - $f(x) = x^3$ اتم - $f(x) = 4x^3$ نهم - $f(x) = 2$

لسم - $f(x) = x + 1$ یولسم - $f(x) = x^2 + x - 3$ دولسم - $f(x) = x^n ; n \in \mathbb{N}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حلونه

## تمرينونه انتيګرال ششميرنه

مفصل حلونه

اول - $f(x)=x^2 \Rightarrow F(x)=\frac{1}{3}x^3+C$ ازماييينت

$$F'(x)=\frac{1}{3}\cdot 3x^2+0=x^2=f(x)$$

دوري $f(x)=2x^2 \Rightarrow F(x)=\frac{2}{3}x^3+C$ ازماييښت

$$: F'(x)=\frac{2}{3}\cdot 3x^2+0=2x^2=f(x)$$

دريم - $f(x)=x \Rightarrow F(x)=\frac{1}{2}x^2+C$ ازماييښت

$$F'(x)=\frac{1}{2}\cdot 2x^1+0=x=f(x)$$

څلورم - $f(x)=-2x \Rightarrow F(x)=-x^2+C$ ازماييښت

$$: F'(x)=-2x^1+0=-2x=f(x)$$

پنځم - $f(x)=\frac{1}{2}x^2 \Rightarrow F(x)=\frac{1}{6}x^3+C$ ازماييښت

$$F'(x)=\frac{1}{6}\cdot 3x^2+0=\frac{1}{2}x^2=f(x)$$

شپږم - $f(x)=-\frac{1}{4}x \Rightarrow F(x)=-\frac{1}{8}x^2+C$ ازماييښت

$$F'(x)=-\frac{1}{8}\cdot 2x^1+0=-\frac{1}{4}x=f(x)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوم - $f(x) = x^3 \Rightarrow F(x) = \frac{1}{4}x^4 + C$ ازمايينت

$$F'(x) = \frac{1}{4} \cdot 4x^3 + 0 = x^3 = f(x)$$

اتم - $f(x) = 4x^3 \Rightarrow F(x) = x^4 + C$ ازمايينت

$$F'(x) = 4x^3 + 0 = 4x^3 = f(x)$$

نهم - $f(x) = 2 \Rightarrow F(x) = 2x + C$ ازمايينت $: F'(x) = 2 \cdot 1x^0 + 0 = 2 = f(x)$

لسم - $f(x) = x + 1 \Rightarrow F(x) = \frac{1}{2}x^2 + x + C$ ازمايينت

$$F'(x) = \frac{1}{2} \cdot 2x^1 + 1x^0 + 0 = x + 1 = f(x)$$

يولسم - $f(x) = x^2 + x - 3 \Rightarrow F(x) = \frac{1}{3}x^3 + \frac{1}{2}x^2 - 3x + C$ ازمايينت

$$: F'(x) = \frac{1}{3} \cdot 3x^2 + \frac{1}{2} \cdot 2x^1 - 3 \cdot 1x^0 + 0 = x^2 + x - 3 \Rightarrow f(x)$$

دولسم - $f(x) = x^n ; n \in \mathbb{N} \Rightarrow F(x) = \frac{1}{n+1}x^{n+1} + C$ ازمايينت

$$F'(x) = \frac{1}{n+1} \cdot (n+1)x^n + 0 = x^n = f(x)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ناټاکلي انتيګرال څخه و ټاکلي انتيګرال ته

## ترمخ راوړنه يا وړاندراوړنه

موږ ولېدل، چې څنګه يو تابع f(x) ته لومړنی تابع F(x) منځ ته راوړی شو، نو ناپای ډېر لومړني توابع شته دی، چې فقط د يوې ورجمع کوونکې ثابتې له امله يو له بل توپير لري.

لرو: تابع $f(x)=3x^2+2$ او د دې د لومړنيو توابعو سټ $f(x)=x^3+2x+C$

پيژند : د ټولو لومړنيو توابعو سټ و يوې تابع f(x) ته ،،ناټاکلی انتيګرال ،، بلل کيږي او ددې له پاره ليکو: $\int f(x)dx=F(x)+C$

د مشتق- او انتيګرالشميرنې ترمنځ اړيکې کيدی شي د لاندې جملې له لارې لاس ته راشي.

جمله(قضيه) : د ناټاکلی انتيګرالشمېرنه د مشتقشمېرنې برعکس انځوروي

$$\frac{d[f(x)]+C}{dx}=[F(x)+C]'=f(x)$$

د تابع د ګراف لاندې او د انتروال [ a ; b ] تر منځ سطحه دې و ټاکل شي. زموږ په دې پرابلم موږ تر اوسه لاس ته راوړې زده کړې کاروو.






(c) ketabton.com: The Digital Library



د يوې سطحې تابع شتون مو فکر دې لاندې پوهنې (زده کړې) ته لاربشوده وي:
د يوې سطحې، چې د يوې په پام کې نيولې $f(x)$ تابع ګراف لاندې ده تر $x_0$ ځاى پورې او يوې $F'(x)$ تابع، چې د$F(x)$ تابع مشتق د $x_0$ ځاى د $f$ تابع د تابع ارزښت سره د $x_0$ په ځاي کې برابر وي، ترمنځ اړيکي شته دى، يعني $F'(x)=f(x)$







د انتروال [a,b] حدونو ترمنځ سطحې پيداکول د تابع د ګراف سطحو د کمښت څخه په ځاي (A(b)) b او سطحې په (A(a)) a ځاي کې ،. يعني
پهA= A(b) – A(a) همدې توګه
F= F(b) – F(a) لاس ته راځي.

په انتروال [a,b] کې د تابعګراف لاندې سطحه د لومړنيو توابعو تفريق دى:

$$A = F(b) - F(a) := \int_a^b F(x)dx$$

دا انتيګرال ټاکلى انتيګرال هم بلل کيږي.
جمله :
دا تر اوسه لاس ته راوړو معلوماتو په بنسټ کړى شو، چې په پيل بيلګه کې راوړې د چمن سطحه وشميرو.
ثابته له تفريق سره لرې کيږي. په عمل کې د دې مسآلې د حل لپاره يوه بله لار ګتوره راوستلې يا ګټوره بنوولې:

(c) ketabton.com: The Digital Library






$$A=\int_0^{400}\left(\frac{1}{400}x^2+200\right)dx=\frac{1}{1200}x^3+200\cdot x\,\Big|_0^{400}$$

$$=\frac{1}{1200}\cdot 400^3+200\cdot 400\left[\frac{1}{1200}0^3+200\cdot 0\right]$$

$$=\frac{1}{1200}\cdot 400^3+200\cdot 400=\underline{\underline{133333.\bar{3}}}$$

## دریم: د ساده سطحو شمیرنه

بیلګه ۱ :




په انتروال $0 \le x \le 2$ کې د $f(x)$ او د x -محورترمنځ سطحه غواړو پیداکړو

$$f(x)=x$$

$$\int_0^2 f(x)\,dx=\int_0^2 x\,dx=\frac{x^2}{2}\Big|_0^2$$

$$=\frac{2^2}{2}-\frac{0^2}{2}=\frac{4}{2}-0=\underline{\underline{2\,FE}}$$

FE د سطحې یوون یا واحد دی.

بیلګه ۲ :




په انترو$0 \le x \le -2$ کې د x-محور ترمنځ سطحه غواړو پیداکړو

$$f(x)=x$$

$$\int_{-2}^0 f(x)\,dx=\int_{-2}^0 x\,dx=\frac{x^2}{2}\Big|_{-2}^0$$

$$=\frac{0^2}{2}-\frac{(-2)^2}{2}=0-\frac{4}{2}=\underline{\underline{-2\,FE}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیلګه ۳ :

| | |
|---|---|
|  | په انتروال : $\le 2$- کې د x-محور ترمنځ سطحه غواړو پیدا کړو<br>$f(x) = x$<br>$\int_{-2}^{2} f(x)\,dx = \int_{-2}^{2} x\,dx = \frac{x^2}{2}\Big\vert_{-2}^{2}$<br>$= \frac{2^2}{2} - \frac{(-2)^2}{2} = \frac{4}{2} - \frac{4}{2} = \underline{\underline{0\ FE}}$ |

شمیرنه ښایي، چې د x -محور پورته لور ته سطحه زیاتیزه یا مثبت ده او د x – محور کښته لور ته سطحه کمیزه یا منفي ګڼل ګیږي.
په بیلګه ۳ کې سطحې یو بل مخامخ سره له منځه وړي یا پورته کوي.
که فزیکي سطحه څیرو، نو انتیګرال باید ووېشل شي او ارزښتونه وشمیرل شي.

$$\int_{-2}^{2} x\,dx = \left|\int_{-2}^{0} x\,dx\right| + \left|\int_{0}^{2} x\,dx\right| = \left|\frac{x^2}{2}\Big\vert_{-2}^{0}\right| + \left|\frac{x^2}{2}\Big\vert_{0}^{2}\right| = \left|\frac{0^2}{2} - \frac{(-2)^2}{2}\right| + \left|\frac{2^2}{2} - \frac{0^2}{2}\right| = 2 + 2 = \underline{\underline{4\ FE}}$$

بیلګه ۴ :

| | |
|---|---|
| په انتروال $1 \le x \le 5$ کې د $f(x)$ او د x -محور ترمنځ سطحه غواړو پیدا کړو<br>$f(x) = -x^2 + 6x - 5$<br> | $A = \int_{1}^{5} f(x)\,dx = \int_{1}^{5} \left(-x^2 + 6x - 5\right) dx$<br>$= \left[-\frac{x^3}{3} + \frac{6x^2}{2} - 5x\right]_{1}^{5}$<br>$= \left(-\frac{5^3}{3} + \frac{6\cdot 5^2}{2} - 5\cdot 5\right) - \left(-\frac{1^3}{3} + \frac{6\cdot 1^2}{2} - 5\cdot 1\right)$<br>$= \left(-\frac{125}{3} + 75 - 25\right) - \left(-\frac{1}{3} + 3 - 5\right)$<br>$= -\frac{125}{3} + \frac{225}{3} - \frac{75}{3} + \frac{1}{3} - \frac{9}{3} + \frac{15}{3} = \frac{32}{3}$<br>$\Rightarrow A \approx \underline{\underline{10{,}67\ FE}}$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................................................

بیلګه ۵:

| | |
|---|---|
| په انتروال $1 \le x \le 5$ کې د $f(x)$ اود $x$ -محور ترمنځ سطحه غواړو پیدا کړو<br>$f(x) = x^2 - 6x + 5$<br> | $A = \int_1^5 f(x)\,dx = \int_1^5 \left(x^2 - 6x + 5\right) dx$<br>$= \left[\frac{x^3}{3} - \frac{6x^2}{2} + 5x\right]_1^5$<br>$= \left(\frac{5^3}{3} - \frac{6 \cdot 5^2}{2} + 5 \cdot 5\right) - \left(\frac{1^3}{3} - \frac{6 \cdot 1^2}{2} + 5 \cdot 1\right)$<br>$= \left(\frac{125}{3} - 75 + 25\right) - \left(\frac{1}{3} - 3 + 5\right)$<br>$= \frac{125}{3} - \frac{225}{3} + \frac{75}{3} - \frac{1}{3} + \frac{9}{3} - \frac{15}{3} = -\frac{32}{3}$<br>$\Rightarrow A \approx \underline{\underline{-10{,}67\ FE}}$ |

جمله: سطحه پروتځای او مخنخښه

$\int_{x_1}^{x_2} f(x)\,dx > 0 \Leftrightarrow x_1 < x_2$ او سطحه د x -محور پورته لور ته پرته ده

$\int_{x_1}^{x_2} f(x)\,dx < 0 \Leftrightarrow x_1 < x_2$ او سطحه د x -محور کښته لور ته پرته ده.

## د انتیګرېشن پولو بدلول:

څه پېښيږي، که د انتیګرېشن پولې سره بدلې شي؟

بیلګه ۶ :

(c) ketabton.com: The Digital Library



$f(x) = x$

$$\int_0^2 f(x)\,dx = \int_0^2 x\,dx = \frac{x^2}{2}\Bigg|_0^2$$

$$= \frac{2^2}{2} - \frac{0^2}{2} = \frac{4}{2} - 0 = 2\,FE$$

FE د سطحي يوون يا واحد دی.

د انتيګرېشن پولي سره بدلوو:

$$\int_2 \quad \int_2 \quad 2\Big|_2$$

$$= \frac{0^2}{2} - \frac{2^2}{2} = 0 - \frac{4}{2} = -2\,FE$$

د دې لپاره چې سطحه مثبت يا زياتيزه شي بايد له (1-) سره ضرب شي.

په انتروال $0 \le x \le 2$ کې د $f(x)$ او د x - محورترمنځ سطحه غواړو پيداکړو




بيلګه ٧ :

د انتيګرېشن پولي سره بدليږي

$$A = \int_5^1 f(x)\,dx = \int_5^1 \left(-x^2 + 6x - 5\right) dx$$

$$= \left[-\frac{x^3}{3} + \frac{6x^2}{2} - 5x\right]_5^1$$

$$= \left(-\frac{1^3}{3} + \frac{6\cdot 1^2}{2} - 5\cdot 1\right) - \left(-\frac{5^3}{3} + \frac{6\cdot 5^2}{2} - 5\cdot 5\right)$$

$$= \left(-\frac{1}{3} + 3 - 5\right) - \left(-\frac{125}{3} + 75 - 25\right)$$

$$= -\frac{1}{3} + \frac{9}{3} - \frac{15}{3} + \frac{125}{3} - \frac{225}{3} + \frac{75}{3} = -\frac{32}{3}$$

$$\Rightarrow A \approx -10{,}67\,FE$$

په انتروال $1 \le x \le 5$ کې د $f(x)$ اود x -محور ترمنځ سطحه غواړو پيدا کړو

$$f(x) = -x^2 + 6x - 5$$




$$A = \int_1^5 f(x)\,dx = \int_1^5 \left(-x^2 + 6x - 5\right) dx$$

$$\approx 10{,}67\,FE$$

جمله: د پولي بدلولو سره د انتيګرېشن مخنخښه بدليږي.

$$\int_a^b f(x)\,dx = -\int_b^a f(x)\,dx \quad \text{oder} \quad -\int_a^b f(x)\,dx = \int_b^a f(x)\,dx$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیلګه ۸ :

په انترو $-2 \le x \le 0$ کې د x-محور ترمنځ سطحه غواړو پیداکړو

$$\int_{-2}^{0} f(x)\,dx = \int_{-2}^{0} -x\,dx = -\int_{-2}^{0} x\,dx$$

پولې بدلوو

$$= \int_{0}^{-2} x\,dx = \left.\frac{x^2}{2}\right|_{0}^{-2}$$

$$= \frac{(-2)^2}{2} - \frac{0^2}{2} = \frac{4}{2} - 0 = 2\ FE$$

بیلګه ۲ :

په انترو $-2 \le x \le 0$ کې د x-محور ترمنځ سطحه غواړو پیداکړو

$f(x) = -x$




تمرینونه:

انتیګرال شمیرنه II:

لاندې تاکلي انتیګرالونه وشمیرئ.

يو - $\int_{1}^{3} x\,dx$ دوه - $\int_{0}^{3} (x^2-1)\,dx$ درې - $\int_{-2}^{2} 4\,dx$ څلور - $\int_{3}^{4} dx$

پنځه - $\int_{0}^{4} (2x-5)\,dx$ شپږ - $\int_{-\sqrt{8}}^{\sqrt{8}} \left(\frac{1}{2}x^2-4\right)dx$

اوه- $\int_{-3}^{3} (x^3+2x)\,dx$ اته - $\int_{-1}^{2} \left(x^3-\frac{1}{2}x^2+3x-4\right)dx$

نهه - $\int_{-4}^{4} \left(2x^2-\frac{1}{8}x^4\right)dx$ لس - $\int_{2}^{3} (3x-6)^3\,dx$

(c) ketabton.com: The Digital Library



حلونه

انتیګرال شمیرنه II

نتیجې

لومړی- $\int_{1}^{3} x\, dx = \left[\frac{1}{2}x^2\right]_1^3 = \underline{\underline{4}}$

دویم:- $\int_{0}^{3} \left(x^2 - 1\right) dx = \left[\frac{1}{3}x^3 - x\right]_0^3 = \underline{\underline{6}}$

دریم- $\int_{-2}^{2} 4\, dx = \left[4x\right]_{-2}^{2} = \underline{\underline{16}}$

څلورم- $\int_{3}^{4} dx = \left[x\right]_3^4 = \underline{\underline{1}}$

پنځم- $\int_{0}^{4} (2x - 5)\, dx = \left[x^2 - 5x\right]_0^4 = \underline{\underline{-4}}$

شپږم: $\int_{-\sqrt{8}}^{\sqrt{8}} \left(\frac{1}{2}x^2 - 4\right) dx = \left[\frac{1}{6}x^3 - 4x\right]_{-\sqrt{8}}^{\sqrt{8}} \approx \underline{\underline{-15,085}}$

اووم- $\int_{-3}^{3} \left(x^3 + 2x\right) dx = \left[\frac{1}{4}x^4 + x^2\right]_{-3}^{3} = \underline{\underline{0}}$

اتم- $\int_{-1}^{2} \left(x^3 - \frac{1}{2}x^2 + 3x - 4\right) dx = \left[\frac{1}{4}x^4 - \frac{1}{6}x^3 + \frac{3}{2}x^2 - 4x\right]_{-1}^{2} = \underline{\underline{-\frac{21}{4}}}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهم- $\int_{-4}^{4}\left(2x^2-\frac{1}{8}x^4\right)dx=\left[\frac{2}{3}x^3-\frac{1}{40}x^5\right]_{-4}^{4}=\underline{\underline{\frac{512}{15}}}$

لسم- $\int_{2}^{3}(3x-6)^3\,dx=\left[\frac{27}{4}x^4-\frac{162}{3}x^3+\frac{324}{2}x^2-216x\right]_2^3=\underline{\underline{\frac{27}{4}}}$

مفصل حلونه:

لومړی- $\int_{1}^{3}x\,dx=\left[\frac{1}{2}x^2\right]_1^3=\frac{1}{2}\cdot 3^2-\frac{1}{2}\cdot 1^2=\frac{1}{2}\cdot 9-\frac{1}{2}\cdot 1=\frac{9}{2}-\frac{1}{2}=\frac{8}{2}=\underline{\underline{4}}$

د ویم-

$\int_{0}^{3}\left(x^2-1\right)dx=\left[\frac{1}{3}x^3-x\right]_0^3=\frac{1}{3}\cdot 3^3-3-\left(\frac{1}{3}\cdot 0^3-0\right)=3^2-3-(0)=9-3=\underline{\underline{6}}$

دریم- $\int_{-2}^{2}4\,dx=[4x]_{-2}^{2}=4\cdot 2-4\cdot(-2)=8+8=\underline{\underline{16}}$

څلورم- $\int_{3}^{4}dx=[x]_3^4=4-3=\underline{\underline{1}}$

پنځم-

$\int_{0}^{4}(2x-5)\,dx=\left[x^2-5x\right]_0^4=4^2-5\cdot 4-\left(0^2-5\cdot 0\right)=16-20-0=\underline{\underline{-4}}$

شپږم-

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\int_{-\sqrt{8}}^{\sqrt{8}}\left(\frac{1}{2}x^2-4\right)dx=\left[\frac{1}{6}x^3-4x\right]_{-\sqrt{8}}^{\sqrt{8}}=\frac{1}{6}\cdot\left(\sqrt{8}\right)^3-4\cdot\sqrt{8}-\left(\frac{1}{6}\cdot\left(-\sqrt{8}\right)^3-4\cdot\left(-\sqrt{8}\right)\right)$$

$$=\frac{1}{6}\cdot 8\cdot\sqrt{8}-4\cdot\sqrt{8}-\left(-\frac{1}{6}\cdot 8\cdot\sqrt{8}+4\cdot\sqrt{8}\right)=\frac{8}{6}\cdot\sqrt{8}-\frac{24}{6}\cdot\sqrt{8}+\frac{8}{6}\cdot\sqrt{8}-\frac{24}{6}\cdot\sqrt{8}$$

$$=-\frac{32}{6}\cdot\sqrt{8}=-\frac{16}{3}\cdot\sqrt{8}\approx-15{,}085$$

اووم –

$$\int_{-3}^{3}\left(x^3+2x\right)dx=\left[\frac{1}{4}x^4+x^2\right]_{-3}^{3}=\frac{1}{4}\cdot 3^4+3^2-\left(\frac{1}{4}\cdot(-3)^4+(-3)^2\right)$$

$$=\frac{81}{4}+9-\left(\frac{81}{4}+9\right)=0$$

اتم -

$$\int_{-1}^{2}\left(x^3-\frac{1}{2}x^2+3x-4\right)dx=\left[\frac{1}{4}x^4-\frac{1}{6}x^3+\frac{3}{2}x^2-4x\right]_{-1}^{2}$$

$$=\frac{1}{4}\cdot 2^4-\frac{1}{6}\cdot 2^3+\frac{3}{2}\cdot 2^2-4\cdot 2-\left[\frac{1}{4}\cdot(-1)^4-\frac{1}{6}\cdot(-1)^3+\frac{3}{2}\cdot(-1)^2-4\cdot(-1)\right]$$

$$=\frac{16}{4}-\frac{8}{6}+\frac{12}{2}-8-\left[\frac{1}{4}\cdot 1-\frac{1}{6}\cdot(-1)+\frac{3}{2}\cdot 1+4\right]$$

$$=4-\frac{4}{3}+6-8-\left[\frac{1}{4}+\frac{1}{6}+\frac{3}{2}+4\right]$$

$$=2-\frac{4}{3}-\frac{1}{4}-\frac{1}{6}-\frac{3}{2}-4=-\frac{24}{12}-\frac{16}{12}-\frac{3}{12}-\frac{2}{12}-\frac{18}{12}=-\frac{63}{12}=-\frac{21}{4}$$

نهم: مفصل حل( اوبیونه):

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\int_{-4}^{4}\left(2x^2-\frac{1}{8}x^4\right)dx=\left[\frac{2}{3}x^3-\frac{1}{40}x^5\right]_{-4}^{4}=$$

$$=\frac{2}{3}\cdot 4^3-\frac{1}{40}\cdot 4^5-\left[\frac{2}{3}\cdot(-4)^3-\frac{1}{40}\cdot(-4)^5\right]$$

$$=\frac{128}{3}-\frac{1024}{40}-\left[\frac{2}{3}\cdot(-64)-\frac{1}{40}\cdot(-1024)\right]$$

$$=\frac{128}{3}-\frac{1024}{40}-\left[-\frac{128}{3}+\frac{1024}{40}\right]=\frac{128}{3}-\frac{1024}{40}+\frac{128}{3}-\frac{1024}{40}$$

$$=\frac{256}{3}-\frac{2048}{40}=\frac{256}{3}-\frac{256}{5}=\frac{1280}{15}-\frac{768}{15}=\frac{512}{15}$$

لسم:

$$\int_{2}^{3}(3x-6)^3\,dx=\int_{2}^{3}(3x-6)^2\cdot(3x-6)\,dx=\int_{2}^{3}\left(9x^2-36x+36\right)\cdot(3x-6)\,dx$$

$$=\int_{2}^{3}\left(27x^3-162x^2+324x-216\right)dx$$

$$=\left[\frac{27}{4}x^4-\frac{162}{3}x^3+\frac{324}{2}x^2-216x\right]_{2}^{3}$$

$$=\frac{27}{4}\cdot 3^4-\frac{162}{3}\cdot 3^3+\frac{324}{2}\cdot 3^2-216\cdot 3-\left[\frac{27}{4}\cdot 2^4-\frac{162}{3}\cdot 2^3+\frac{324}{2}\cdot 2^2-216\cdot 2\right]$$

$$=\frac{2187}{4}-1458+\frac{2916}{2}-648-108+\frac{1296}{3}-648+432$$

$$=\frac{2187}{4}-1458+1458-648-108+432-648+432$$

$$=\frac{2187}{4}-540=\frac{2187}{4}-\frac{2160}{4}=\frac{27}{4}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د توابعو ترمنځ سطحه

## له دوه ګرافونو څخه رابندې سطحې د مساحت شميرنه:

ننوتنه: د يوه ډنډ يا يوه بند څېره دې دلته راوړل شي يا ديوه پټي ٍچې له ګړو پولو را بند وي.

فعاليت:

- که داسي يو ډنډ ولرو، نو فکر وکړئ، چې د دې ډنډ مساحت څنګه وشمېرو؟

په څنو پوښتنو کې د سطحې مساحت شمېرل کيږي، چې د دوه توابعو ګرافونو ترمنځ پرته ده. دا ډول د سطحې مساحت کېدی شي د تاکلو اينتګرالونو د کمښت له لارې و شمېرل شي. که دواړه ګرافونه د x-محور پورته لور ته پراته وي،نو د لاندې شيما څخه مخ ته ځو :



$$A = A_1 - A_2$$

د اينتګرال جوړونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\int_0^3 f(x)dx = \int_0^3 (x^2 - 2x + 2)dx = \left[\frac{1}{3}x^3 - x^2 + 2x\right]_0^3 = \frac{1}{3}\cdot 27 - 9 + 2\cdot 3 = 9 - 9 + 6 = \underline{\underline{6}}$$

$$\int_0^3 g(x)dx = \int_0^3 (-x^2 + 4x + 2)dx = \left[-\frac{1}{3}x^3 + 2x^2 + 2x\right]_0^3 = -\frac{1}{3}\cdot 27 + 2\cdot 9 + 2\cdot 3 =$$
$$= -9 + 18 + 6 = \underline{\underline{15}}$$

دا چې د دوه ګرافونو ترمنځ سطحه بايد تل مثبت وي،نو له لوي ارزښت څخه کووچنی ارزښت بايد کم شي.

$$A = \int_0^3 g(x)dx - \int_0^3 f(x)dx = 15 - 6 = \underline{\underline{9}}$$

لکه چې پوهيږو، د يوې سطحې مخنښه ددې په واک کې ده، چې ايا سطحه د **x** - محور پورته لور ته پرته ده او که کښته لور ته. موږ ځېږو، چې ايا دا تاثيرات په پورتنی بيلګه کې پراته دي او که نه. موږ سطحه د **y** -محور په درې واحدونو( يوونونو) کښته لورته بيايو او سطحې نوې شمېرو.







که د ليد له مخې قضاوت وکړو،نو د ټولو لاس ته راوړنه به برابره وي.

د x–ارزښت  غوځتکي هم او له دې سره د انتيګرال حدونه بې تغيره پاتيږي.

$$g(x) = -x^2 + 4x - 1 \quad \text{و} \quad f(x) = x^2 - 2x - 1$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای په ځای کونه:

$$A=\int_0^3 f(x)dx-\int_0^3 g(x)dx=\int_0^3 (f(x)-g(x))\,dx$$

د $f(x)-g(x)=2x^2-6x$ سره کيږي:

$$A=\int_0^3 (2x^2-3x^2)\,dx=\left[\frac{2}{3}x^3-3x^2\right]_0^3=\frac{2}{3}\cdot 27-3\cdot 9=18-27=\underline{\underline{-9}}$$

دا چې د دوه منحنيو ترمنځ سطحه فزيکي سطحه ښايي، بايد لاس ته راوړنه يو مثبت عدد وي.

دا د مطلق ارزښت له لارې ترلاسه کوو.

$$A=\left|\int_0^3 (2x^2-6x)\,dx\right|=\left|\left[\frac{2}{3}x^3-3x^2\right]_0^3\right|=\left|\frac{2}{3}\cdot 27-3\cdot 9\right|=\left|18-27\right|=\left|-9\right|=\underline{\underline{9}}$$

د دې متود توليزه ونه(عموميت) :

| | |
|---|---|
| د دوه ګرافونو ترمنځ سطحه:<br><br>که يوه سطحه د يوې پورته او يوې کښته منحني څخه رابنده وي، چې تابع(f(x او تابع (g(x پورې اړه و لري، نو دا له دې رابنده سطحه په لاندې دول شمېرل کيږي.<br><br>$A=\left\|\int_a^b [f(x)-g(x)]dx\right\|$ |  |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انتیګرالونې حدونه a او b د x – محور د دواړو ګرافونو د وضعیه قېیمتونو غوښتکي دي.

تمرینونه:

د توابعو ګرافونو تر منځ سطحه.

د لاندې فنکشنونو(توابعو) ترمنځ سطحه وټاکئ او دواړه ګرافونه په یوه پروتولاړ سیستم کې وکاږئ. شمیرل شوې سطحې کربښه کربښه کړئ.

لومړی- $f(x) = x^2 - x - 6\,;\ g(x) = 4x - 10$

دویم- $f(x) = -\frac{1}{2}x^2 + \frac{5}{2}x + 3\,;\ g(x) = 3x$

دریم - $f(x) = 0{,}75\left(x^2 - 5x + 4\right);\ g(x) = 0{,}75x + 3$

څلورم- $f(x) = x^2 + 5x + \frac{9}{4}\,;\ g(x) = -\frac{3}{2}x - \frac{21}{4}$

پنځم - $f(x) = (x-2)^2 - 4\,;\ g(x) = x - 1$

شپږم- $f(x) = x^2 - 4x + 1;\ g(x) = -x^2 + 2x + 1$

اووم- $f(x) = \frac{3}{2}x^2 - 6x + 3\,;\ g(x) = \frac{1}{2}x^2 - 2x$

اتم - $f(x) = x^2 + 3x\,;\ g(x) = 0{,}5x^2$

نهم- $f(x) = 0{,}5x^2 - 2x - 1;\ g(x) = 2x^2 + 2x + 1$

(c) ketabton.com: The Digital Library



لسم- $f(x) = -0,5x^2 + 2 ; g(x) = -\frac{1}{9}(x-1)^2 + 1$

## مفصل جلونه يا اوبيوني

لومړی –
$$f(x) = x^2 - x - 6 ; g(x) = 4x - 10$$
$$f(x) - g(x) = 0 \Leftrightarrow x^2 - 5x + 4 = 0 \Leftrightarrow x_1 = 1 \text{ und } x_2 = 4$$

$$A = \left|\int_1^4 [f(x) - g(x)]\, dx\right| = \left|\left[\frac{1}{3}x^3 - \frac{5}{2}x^2 + 4x\right]_1^4\right|$$
$$= \left|\frac{1}{3}\cdot 4^3 - \frac{5}{2}\cdot 4^2 + 4\cdot 4 - \left[\frac{1}{3}\cdot 1^3 - \frac{5}{2}\cdot 1^2 + 4\cdot 1\right]\right| = \underline{\underline{4,5}}$$

د دواړ ګرافونو ترمنځ سطحه 4,5 FE به له دې وروسته او د مخه د سطحې واحد يا FE) يوون وي)ده.




دويم -

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$f(x) = -\frac{1}{2}x^2 + \frac{5}{2}x + 3;\ g(x) = 3x$$

$$f(x) - g(x) = 0 \Leftrightarrow -\frac{1}{2}x^2 - \frac{1}{2}x + 3 = 0 \Leftrightarrow x_1 = -3 \text{ und } x_2 = 2$$

$$\int_{-3}^{2} [f(x) - g(x)]\,dx = \left[-\frac{1}{6}x^3 - \frac{1}{4}x^2 + 3x\right]_{-3}^{2}$$

$$= -\frac{1}{6}\cdot 2^3 - \frac{1}{4}\cdot 2^2 + 3\cdot 2 - \left[-\frac{1}{6}\cdot(-3)^3 - \frac{1}{4}\cdot(-3)^2 + 3\cdot(-3)\right] = \frac{125}{12} \approx \underline{\underline{10{,}417}}$$

د دواړو ګرافونو ترمنځ سطحه 10,417 FE ده.

یادونه: سړی کړی شي چې شمیرنه بې له مطلق ارزښت مخ ته بوزي، که سړی له نتایجو یا لاس ته راوړنو، که منفي ارزښت ولري، مطلق ارزښت جوړ کړي.




دریم –

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$f(x) = 0{,}75\left(x^2 - 5x + 4\right) = 0{,}75x^2 - 3{,}75x + 3;\ g(x) = 0{,}75x + 3$$
$$f(x) - g(x) = 0 \Leftrightarrow 0{,}75x^2 - 4{,}5x = 0 \Leftrightarrow x_1 = 0 \text{ und } x_2 = 6$$

$$\int_0^6 [f(x) - g(x)]\,dx = \left[\frac{0{,}75}{3}x^3 - \frac{4{,}5}{2}x^2\right]_0^6 = \frac{0{,}75}{3}\cdot 6^3 - \frac{4{,}5}{2}\cdot 6^2 = -27$$
$$A = \left|\int_0^6 [f(x) - g(x)]\,dx\right| = |-27| = \underline{\underline{27}}$$

د دواړو ګرافونو ترمنځ سطحه 27 FE ده.




ځلورم –

$$f(x) = x^2 + 5x + \frac{9}{4};\ g(x) = -\frac{3}{2}x - \frac{21}{4}$$
$$f(x) - g(x) = 0 \Leftrightarrow x^2 + \frac{13}{2}x + \frac{15}{2} = 0 \Leftrightarrow x_1 = -5 \text{ und } x_2 = -\frac{3}{2}$$

او $x_2 = -\frac{3}{2}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\int_{-5}^{-\frac{3}{2}} [f(x)-g(x)]\,dx = \left[\frac{1}{3}x^3+\frac{13}{4}x^2+\frac{15}{2}x\right]_{-5}^{-\frac{3}{2}}$$

$$= \frac{1}{3}\cdot\left(-\frac{3}{2}\right)^3+\frac{13}{4}\cdot\left(-\frac{3}{2}\right)^2+\frac{15}{2}\cdot\left(-\frac{3}{2}\right)-\left[\frac{1}{3}\cdot(-5)^3+\frac{13}{4}\cdot(-5)^2+\frac{15}{2}\cdot(-5)\right] = -\frac{343}{48}$$

$$A = \left|\int_{-5}^{-\frac{3}{2}} [f(x)-g(x)]\,dx\right| = \left|-\frac{343}{48}\right| \approx \underline{\underline{7,146}}$$




د دواړ ګرافون ترمنځ سطحه نږدې 7,146 FE ده.

پنځم -

$$f(x) = (x-2)^2 - 4 = x^2 - 4x \,;\; g(x) = x - 1$$

$$f(x) - g(x) = 0 \Leftrightarrow x^2 - 5x + 1 = 0 \Leftrightarrow x_1 = \frac{5}{2} - \sqrt{\frac{21}{4}} \text{ und } x_2 = \frac{5}{2} + \sqrt{\frac{21}{4}}$$

$$\int_{\frac{5}{2}-\sqrt{\frac{21}{4}}}^{\frac{5}{2}+\sqrt{\frac{21}{4}}} [f(x)-g(x)]\,dx = \left[\frac{1}{3}x^3 - \frac{5}{2}x^2 + x\right]_{\frac{5}{2}-\sqrt{\frac{21}{4}}}^{\frac{5}{2}+\sqrt{\frac{21}{4}}}$$

$$= \frac{1}{3}\cdot\left(\frac{5}{2}+\sqrt{\frac{21}{4}}\right)^3 - \frac{5}{2}\cdot\left(\frac{5}{2}+\sqrt{\frac{21}{4}}\right)^2 + \left(\frac{5}{2}+\sqrt{\frac{21}{4}}\right)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$-\left[\frac{1}{3}\cdot\left(\frac{5}{2}-\sqrt{\frac{21}{4}}\right)^3-\frac{5}{2}\cdot\left(\frac{5}{2}-\sqrt{\frac{21}{4}}\right)^2+\left(\frac{5}{2}-\sqrt{\frac{21}{4}}\right)\right]=-\frac{7}{2}\cdot\sqrt{21}\approx-16{,}039$$

$$A=\left|\int_{\frac{5}{2}-\sqrt{\frac{21}{4}}}^{\frac{5}{2}+\sqrt{\frac{21}{4}}}\left[f(x)-g(x)\right]dx\right|=\left|-\frac{7}{2}\cdot\sqrt{21}\right|\approx\underline{\underline{16{,}039}}$$




د دواړو ګرافونو ترمنځ سطحه نږدې یا څه ناڅه 16,039 FE ده.

شپږم –

$$f(x)=x^2-4x+1;\ g(x)=-x^2+2x+1$$

$$f(x)-g(x)=0\Leftrightarrow 2x^2-6x=0\Leftrightarrow x_1=0 \text{ und } x_2=3$$

$$\int_0^3\left[f(x)-g(x)\right]dx=\left[\frac{2}{3}x^3-3x^2\right]_0^3=\frac{2}{3}\cdot3^3-3\cdot3^2=-9$$

$$A=\left|\int_0^3\left[f(x)-g(x)\right]dx\right|=\left|-9\right|=\underline{\underline{9}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
|   | د دواړو ګرافونو ترمنځ سطحه 9 FE ده. |

اووم –

$$f(x) = \frac{3}{2}x^2 - 6x + 3\,;\, g(x) = \frac{1}{2}x^2 - 2x$$

$$f(x) - g(x) = 0 \Leftrightarrow x^2 - 4x + 3 = 0 \Leftrightarrow x_1 = 1 \text{ und } x_2 = 3$$

$$\int_1^3 [f(x) - g(x)]\,dx = \left[\frac{1}{3}x^3 - 2x^2 + 3x\right]_1^3$$

$$= \frac{1}{3}\cdot 3^3 - 2\cdot 3^2 + 3\cdot 3 - \left[\frac{1}{3}\cdot 1^3 - 2\cdot 1^2 + 3\cdot 1\right] = -\frac{4}{3}$$

$$A = \left|\int_1^3 [f(x) - g(x)]\,dx\right| = \left|-\frac{4}{3}\right| = \underline{\underline{\frac{4}{3}}} \approx 1,333$$

| | |
|---|---|
|   | د دواړو ګرافونو ترمنځسطحه څه ناڅه يا نږدې 1,333 FE ده. |

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتم -

$$f(x) = x^2 + 3x\ ;\ g(x) = 0{,}5x^2$$

$$f(x) - g(x) = 0 \Leftrightarrow 0{,}5x^2 + 3x = 0 \Leftrightarrow x_1 = -6 \text{ und } x_2 = 0$$

$$\int_{-6}^{0} [f(x) - g(x)]\,dx = \left[\frac{0{,}5}{3}x^3 + \frac{2}{3}x^2\right]_{-6}^{0} = -\left[\frac{0{,}5}{3}\cdot(-6)^3 + \frac{3}{2}\cdot(-6)^2\right] = -18$$

$$A = \left|\int_{-6}^{0} [f(x) - g(x)]\,dx\right| = |-18| = \underline{\underline{18}}$$




د دواړو ګرافونو ترمنځ سطحه 18 FE ده.

نهم -

$$f(x) = 0{,}5x^2 - 2x - 1;\ g(x) = 2x^2 + 2x + 1$$

$$f(x) - g(x) = 0 \Leftrightarrow -1{,}5x^2 - 4x - 2 = 0 \Leftrightarrow x_1 = -2 \text{ und } x_2 = -\frac{2}{3}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\int_{-2}^{-\frac{2}{3}} [f(x)-g(x)]\,dx = \left[-\frac{1,5}{3}x^3 - 2x^2 - 2x\right]_{-2}^{-\frac{2}{3}}$$
$$= -\frac{1,5}{3}\cdot\left(-\frac{2}{3}\right)^3 - 2\cdot\left(-\frac{2}{3}\right)^2 - 2\cdot\left(-\frac{2}{3}\right) - \left[-\frac{1,5}{3}\cdot(-2)^3 - 2\cdot(-2)^2 - 2\cdot(-2)\right]$$
$$= \frac{16}{27} \approx 0,593$$

ددواړو ګرفاون ترمنځ سطحه نږدې 0,593 FE ده.




لسم-

$$f(x) = -0,5x^2 + 2\,;\; g(x) = -\frac{1}{9}(x-1)^2 + 1 = -\frac{1}{9}x^2 + \frac{2}{9}x + \frac{8}{9}$$
$$f(x) - g(x) = 0 \Leftrightarrow -\frac{7}{18}x^2 - \frac{2}{9}x + \frac{10}{9} = 0 \Leftrightarrow x_1 = -2 \text{ und } x_2 = \frac{10}{7}$$

$$\int_{-2}^{\frac{10}{7}} [f(x)-g(x)]\,dx = \left[-\frac{7}{54}x^3 - \frac{1}{9}x^2 + \frac{10}{9}x\right]_{-2}^{\frac{10}{7}}$$
$$= -\frac{7}{54}\cdot\left(\frac{10}{7}\right)^3 - \frac{1}{9}\cdot\left(\frac{10}{7}\right)^2 + \frac{10}{9}\cdot\frac{10}{7} - \left[-\frac{7}{54}\cdot(-2)^3 - \frac{1}{9}\cdot(-2)^2 + \frac{10}{9}\cdot(-2)\right]$$
$$= \frac{128}{49} \approx 2,612$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| ددواړو ګرافونو ترمنځ سطحه نږدې 2,612 FE ده. |  |



## انتيګرال د منځ- ارزښت په حيث يا توګه

### د f(x) [ a ; b ] په انتروا کې انتيګرال د منځ ارزښت په تګه( حيث)

د يوه ازاد غونډوسکي وهلو فکشن f(x)ګراف په فوټبال لوبه کې په نږدې توګه د غونډوسکي (کرې) الوتنو کرښه يا منحني ده.

$$f(x) = -\frac{1}{288}x^3 + \frac{1}{16}x^2$$





د غونډوسکي(کرې) وهلو يا شوټ څخه وروسته د 7 m او ترمنځ 16 m دغونډوسکي کرښه کوم د الوتنې منحنی جګوالی لري؟

لومړی د دې ورشو لپاره ا رزښت جدول جوړوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................................

| $x_i$ | 7 | 8 | 9 | 10 | 11 | 12 | 13 | 14 | 15 | 16 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| $f(x_i)$ | 1,872 | 2,222 | 2,531 | 2,778 | 2,941 | 3 | 2,934 | 2,722 | 2,344 | 1,778 |

د شمیرل شووفنکشن ارزښتونو f(x) منځ- ارزښت فرمول $\overline{f(x)} = \frac{1}{n}\sum_{i=1}^{n} f(x_i)$ جوړیږي.
زموږ د بیلګې لپاره $n = 10$ دی،، نو باور لري:

$$\overline{f(x)} = \frac{1}{10}\sum_{i=1}^{10} f(x_i)$$
$$= \frac{1}{10}\cdot(1{,}872 + 2{,}222 + 2{,}531 + 2{,}778 + 2{,}941 + 3 + 2{,}934 + 2{,}722 + 2{,}344 + 1{,}778)$$
$$= \frac{25{,}122}{10} = 2{,}512$$

له دې سره غونډوسکه په انتروال [ 16 ; 7 ]کې منځني د 2,512 m الوتنجګوالی لري. که سړی دا تلنه په شدلو یا نریو پلونو(قمونو) واخلي، نو د منځي ارزښت بله لاس ته راوړنه به ترې را ووځي یا لاس ته راشي.

د x -ارزښتونو 16 ;13 ;10 ;7 سره د منځني ارزښت لپاره به 2,34 m لاس ته راغلي وای.

د x -ارزښتونو ..... ;8,5 ;8 ;7,5 ;7 سره د منځنی ارزښت لپاره به 2,555 m لاس ته راغلي وای.

په روښانه تګه لیدل کیږي، چې هرڅومره x -پلونه نري واخستل شي په همغه اندازه منځنی ارزښت ټیک لاس ته راوړل کیږي.

دا تلنلار د ټاکلي انتیګرال له لارې غواړو غوره کړو:
للومړی نیسو، چې فنکشن f(x) په انتروال [a;b] کې تعریف دی یا پیژند لري او زیاتیز یا مثبت. فنکشن د انتروال[ a;b] په منځکې کوم ارزښت غوره کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاکلی اتیګرال $\int_a^b f(x)dx$

په انټروال [ a;b ] کې د فنکشن د ګراف لاندې سطحه انځوروي.

مورږ اوس د دې په مخ د ولاړکوډیز یا مستطیل ډوله، له دې سطحې سره برابره کرښیزه سطحه ، په لاندې ډول ږدو:




د ولاړګوډیز یا مستطیل پرت ولاړډوله( -عمودي) اړخ د انټروال[ a;b] د اوږدوالي سره یعنيb-a د سره برابر دی.

داروښانه کیږي، که چیرې د فنکشن f(x) منځ- ارزښت په انټروال [ a;b ] کې په پورته کرښونه کې د ولاړ ګوډیز د جګوالي په څیر تعریف شي.

$$\overline{f(x)} = \frac{1}{b-a}\int_a^b f(x)\,dx$$

د فنکشنf(x) منځ- ارزښت

$$\bar{x} = \frac{1}{n}\sum_{i=1}^{n} x_i$$

د یوه دا تا لړۍ سره په پرتله کونه

دا زمورږ په بیلګه باندې په دې معنا دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$f(x) = -\frac{1}{288}x^3 + \frac{1}{16}x^2$$

$$\overline{f(x)} = \frac{1}{b-a}\int_a^b f(x)\,dx \text{ mit } a = 7 \text{ und } b = 16 \text{ folgt:}$$

$$\overline{f(x)} = \frac{1}{16-7}\int_7^{16}\left(-\frac{1}{288}x^3 + \frac{1}{16}x^2\right)dx = \frac{1}{9}\left[-\frac{1}{4\cdot 288}x^4 + \frac{1}{3\cdot 16}x^3\right]_7^{16}$$

$$= \frac{1}{9}\left(\left[-\frac{1}{1152}\cdot 16^4 + \frac{1}{48}\cdot 16^3\right] - \left[-\frac{1}{1152}\cdot 7^4 + \frac{1}{48}\cdot 7^3\right]\right) = \underline{\underline{2{,}598}}$$

بال به له دې سره په انتروال [ 16 ; 7 ] کې د 2,598 m منځنی جګوالی لرودي.

ټاکلې انتیګرال له دې سره د جمعې یا زیاتون د کلمې تل پاتې ټولنیزوالی کیږي. دا پهدې معنا، چې سړی هرځومره کوچني x - پلونه واخلي، همغومره سړی د فنکشن منځ ارزښت ته نږدې راځي. د زاتونو یا د جمعې د اجزاوو کا اعضاوو ګڼون یا تعداد زیاتیږي یا لوییږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انالیزی

## --اکسپوننشل توابع او e - توابع

پیل

تراوسه راته معلومو توابعو کې توابع رامنځ ته کیده، چې اکسپوننتونه یا جګعددونه یې عددونه وو:

توانتوابع: $f(x) = a \cdot x^q$ د $q \in \mathbb{R}$ : سره .

بیلګه: $f(x) = 2x^3$

توابع د مثبت بنسټ سره، د هغه سره چې خپلواکه متحوله x د اکسپوننت یا جګعدد سره رامنځ ته کیږي، اکسپوننشل تابع بلل کیږي.

د اکپوننشل تابع لپاره بیلګه:

$f_1(x) = 1{,}5^x \quad f_2(x) = 2^x \quad f_3(x) = 2{,}5^x \quad f_4(x) = e^x \quad f_5(x) = 3^x$

اعداد **e ; 2,5 ; 2 ; 1,5** او **3** بنسټ جوړوي او x اکسپو ننت یا جګعدد( جګګڼ).

بنسټ **e** د اویلر عدد باندې مشهور دی او فقریبي ارزښت یې 2,71828 دی.

دا به وروسته هم به نورو راوړونو کې غوره رول ولوبوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| د اکپوننشل تابع ګراف د مختلفو بنسټونو سره. |  |



دا سور رنګه انځور د اړونده اکسپوننشل تابع دe بنسټ پورې اړه لري، چې e تابع هم بلل کیږي.

پام ته راتلنه یا برېښیدنه:

- ټول په وضعیه قیمتسیستم کې ګرافونه د y - محور د ( 1 | 0 ) Py په ټکي کې غوڅوي ( قطع کوي)

- د منفي x - ارزښت لپاره ټول ګرافونه د x - محور ته نزدې کیږي. د منفي x - محور په داسې حالتونو کې اسیمپتوت بلل کیږي. داسې هم ویلای شو، چې په داسې حالاتو کې د منفي x - رازښت ځان اسیمپتوتیکي د x - محور ته ورنزدې کوي.

په ریاضیکي یا شمېرپوهنیز ډول داسې لیکو : $\lim_{x \to -\infty} a^x = 0$

د مثبت - ارزښت لپاره د تابع ارزښت له ټول پولو اوړي یعنې د ناپای په لور ځي.

شمیرپوهنیز لیکدود یې داسې دی: $\lim_{x \to \infty} a^x = \infty$

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په وضعیه قیمتسیستم کې انځورشویو ګرافونو ټول تابع ارزښتونه مثبت دي، ځکه چې د اکسپوننشل توابعو لپاره مثبت اجازه لري.

دا په دې معنا چې په داسې حالت کې صفرځایونه نه شته.

پېژند( هعریف)

د $f(x) = a^x$ r تابع د $a \in \mathbb{R}^+ \setminus \{1\}$ او $x \in \mathbb{R}$ سره اکسپوننشل تابع د a په بنسټ بلل کیږي.

دا د **e** عدد له کومه منځ ته راځي؟

د ربحې شمېرنې څخه دې عدد e منځ ته راشي یا وده وکړي.

دلته په هر د فرمولونو ټولګه کې خوندي د ربحې فرمول استعمالیږي.

| | |
|---|---|
| n: د ربحې د برخې ګڼون یا تعداد : K0<br>پیلپانګهKn دn :<br>کاله ورسته د ربحې برخه p : د ربحې<br>بنسټ یا بېنه په % | n:<br>$K_0$<br>$K_n$<br>p: $K_n = K_0\left(1+\frac{p}{100}\right)^n$ |

په کلنۍ ګټۀ دې ګټه ونه دوه برابره شي. پس د ګټې بېنه له p = 100% ټاکل کیږي داسې چې p/100 = 1 وي.

په یو کال د ډېرو د ګټې برخو سره، پانګه د ګټې-ګټې سره ډېر ځله په ګټه اچول کیږي..
دلته د ګټې بېنه یا بېخ د ګټېبرخو باندې و وېشل شي.

د انګې په ګټه اچول د کال روسته د $p = 100\% \Rightarrow \frac{p}{100} = 1$ سره

$$K_1 = K_0 + K_0 \cdot \frac{p}{100} = K_0\left(1+\frac{p}{100}\right)^1 = K_0(1+1)^1 = \underline{\underline{K_0 \cdot 2}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پانګې ګټونه د یو کال وروسته په نیمکلنه ګټونه د $t\ \frac{p}{2\cdot 100}=\frac{1}{2}$ سره.

$$K_2 = K_0\left(1+\frac{1}{2}\right)^2 = \underline{\underline{K_0\cdot 2,25}}$$

د پانګې ګټونه یا په ګټې اچونه له یو کال ورسته په میاشتنۍ ګټونه د $t\ \frac{p}{12\cdot 100}=\frac{1}{12}$ سره

$$K_{12} = K_0\left(1+\frac{1}{12}\right)^{12} = \underline{\underline{K_0\cdot 2,61\ldots}}$$

د پانګې په ګټې اچونه له یو کال ورسته په روځنۍ ګټونه د $\frac{p}{360\cdot 100}=\frac{1}{360}$ سره

$$K_{360} = K_0\left(1+\frac{1}{360}\right)^{360} = \underline{\underline{K_0\cdot 2,7145\ldots}}$$

د پانګې ګټونه یا په ګټې اچونه له یو کال ورسته په ساعته ګټونه د $\frac{p}{8640\cdot 100}=\frac{1}{8640}$ سره.

$$K_{8640} = K_0\left(1+\frac{1}{8640}\right)^{8640} = \underline{\underline{K_0\cdot \underbrace{2,7181\ldots}_{\approx e}}}$$

د پانګې ګټونه یا په ګټې اچونه له یو کال ورسته په $n$ګټونه د $\frac{p}{n\cdot 100}=\frac{1}{n}$ سره.

$$K_n = K_0\left(1+\frac{1}{n}\right)^n$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



که په هره لحظه میاشتکي په کټه واچول شي ( یعني په ناپای ډېرو کټونو ناپای $n \to$ ) نو د یو کال وروسته لاندې پانګه لاس ته راوړي:

$$\lim_{n\to\infty} K_n = \lim_{n\to\infty} K_0\left(1+\frac{1}{n}\right)^n = K_0\cdot\lim_{n\to\infty}\left(1+\frac{1}{n}\right)^n = K_0\cdot e$$

دا په دې معنا چې پانګه د e ضریب سره ډېرځله شوه،

د e- تابع $f(x)=e^x$ بنستیز خویونه

تابع ارزښت

$f(0)=1$

$f(1)=e\approx 2,72$

$f(2)=e^2\approx 7,39$

$f(-1)=\dfrac{1}{e}\approx 0,37$

$f(-2)=\dfrac{1}{e^2}\approx 0,14$




پوله ارزښت

$\lim_{x\to-\infty} e^x = 0 \qquad \lim_{x\to\infty} e^x = \infty$

$\exists x \in \mathbb{R}$ د $f(x)=e^x>0$ f

لپاره

د e - تابع صفرځای نه لري، د انحراف ټکي نه لري او هم د انعطاف ټکي نه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



د e - تابع هندارونه یا معکوسونه، راکښنه او غزونه

په ورته توګه، لکه نورمال پارابولونه د مطلوبه عملیو سره نور پارابولونه منځ ته راځي، کیدی شي د e - توابعو د ګراف د راکښني، غزوني او هنداروني سره نور اکسپوننشل توابع وګټل یا لاس ته راوړل شي.

هندارونه یا معکوسونه:

| | |
|---|---|
| د y -محور باندې منعکس شوې<br><br>$f_2(x) = e^{-x}$<br><br>دy - محور سره غوڅټکی<br><br>$f_2(0) = e^{-0} = e^0 = 1 \Rightarrow P_y(0\|1)$<br><br>ژی پوله ارزښت<br><br>$\lim_{x\to\infty} e^{-x} = 0$ $\lim_{x\to-\infty} e^{-x} = \infty$<br><br>کوم صفرځایونه، انحرافي ټکي او ادعطافټکي نه شته |  |

د x په محور هندارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



$f_2(x) = -e^x$

د y– محور سره غوڅتکی

$f_2(0) = -e^0 = -1 \Rightarrow P_y(0|-1)$

ژی یا د غاړي پوله ارزښت

$\lim_{x \to -\infty} \left(-e^x\right) = 0$

$\lim_{x \to \infty} \left(-e^x\right) = -\infty$ ،

کوم صفرځایونه، انحرافي ټکي او د انعطافټکي نه شته




د **y** په لور راکښنه

په یوه واحد پورته لور ته راکښنه

$f_2(x) = e^x + 1$

د y - محور سره غوڅتکی

$f_2(0) = e^0 + 1 = 1 + 1 = 2 \Rightarrow P_y(0|2)$

د ژی پوله ارزښت

$\lim_{x \to -\infty} \left(e^x + 1\right) = 1$ $\lim_{x \to \infty} \left(e^x + 1\right) = \infty$

کوم صفرځایونه، انحرافي ټکي او ادعطافټکي نه شته



(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوه واحد پورته لور ته راکښنه

$f_2(x) = e^x + 1$

د y - محور سره غوڅتکی

$f_2(0) = e^0 + 1 = 1 + 1 = 2 \Rightarrow P_y(0 | 2)$

د ژی پوله ارزښت

$\lim_{x \to \infty}(e^x + 1) = \infty \qquad \lim_{x \to -\infty}(e^x + 1) = 1$

کوم صفرځایونه، انحرافي ټکي او ادعطافتکي نه شته




په دوه واحده کښته لور ته راکښنه

$f_2(x) = e^x - 2$

د y – محور سره غوڅتکی

$f_2(0) = e^0 - 2 = 1 - 2 = -1 \Rightarrow P_y(0 | -1)$

ژی یا د غاړي ارزښت

$\lim_{x \to \infty}(e^x - 2) = \infty \qquad \lim_{x \to -\infty}(e^x - 2) = -2$

انحرافي او د انعطاف ټکي نه شته

صفرځا په انتروال [ 0 ; 1 ] کې.




د **x** محور باندې راکښنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
یادونه: $\int\frac{1}{x}dx=\ln|x|+C \text{ und } f(x)=\ln|x|\Rightarrow f'(x)=\frac{1}{x}$

نهم:

$$f(x)=t\cdot x-\frac{3}{2}e^x+t^2+2e$$

$$\Rightarrow F(x)=\int\left(t\cdot x-\frac{3}{2}e^x+t^2+2e\right)dx=\underline{\underline{\frac{1}{2}t\cdot x^2-\frac{3}{2}e^x+t^2\cdot x+2e\cdot x+C}}$$

$$F'(x)=\frac{2}{2}t\cdot x-\frac{3}{2}e^x+t^2+2e=t\cdot x-\frac{3}{2}e^x+t^2+2e=f(x)$$

لسم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$f(x) = t^2 x\left(x^2 - 8x\right) = t^2\left(x^3 - 8x^2\right)$$

$$\Rightarrow F(x) = t^2 \int \left(x^3 - 8x^2\right) dx = t^2\left(\frac{1}{4}x^4 - \frac{8}{3}x^3\right) + C$$

$$F'(x) = t^2\left(\frac{4}{4}x^3 - 3\cdot\frac{8}{3}x^2\right) = t^2\left(x^3 - 8x^2\right) = t^2 x\left(x^2 - 8x\right) = f(x)$$

## اتم: ناپرېکیدنوالی یا متمادیت، مشتق وړوالی او انتیګرالوړوالی

د ناپرېکیدنوالي یا متمادین کلمه دې لیدوړ روښانه یا تشریح شي.

یو تابع **f(x)** هلته په یوه انتروال [ a ; b ] کې متمادي یا ناپرېکیدونکی دی، که چیرې خوک وکړای شي، چې د تابع ګراف د انتروال له یوه سر څخه تر بله سره پورې داسې وکښلای شي، چې د پنسل څوکه له ځایه پورته کیدو ته اړ نه شي.

یا که چیرې تابع **f(x)** د ګراف ټکي د یوه انتروال [ a ; b ] په دننه کې بې له کنډلو یا نښلولو یو بل سره نښتي وي، بې له دې چې کوم ټوپونه ترې رامنځ ته شي، نو بیا تابع f(x) په انتروال [ a ; b ] کې ناپرېکیدونکې یا متمادي دی.

بېلګه:

| | |
|---|---|
| موږ سره یوځای اېښول شوېې تابع څېړو<br>$$f(x) = \begin{cases} x+2 & \text{für } -\infty < x < -2 \\ -x^2+1 & \text{für } -2 \le x \le 2 \\ x-2 & \text{für } 2 < x < \infty \end{cases}$$<br>په ځایونو $x_1 = -2$ او $x_2 = 2$ کې د f(x) ګراف ټوپونه کوي یاښایي.<br>په دې ځایونو کې f(x) پرېکیدونک یا نامتمادي دی. |  |

(c) ketabton.com: The Digital Library



-----...................................................................................................

د متمادي یا ناپرېکیدونکو توابعو لپاره بیلګې:

هر ټولراشنل تابع په خپل تعریفورشو ناپرېکیدونکی دی.

هر مات-یا کسري تابع په خپل تعریفورشو ناپرېکیدونکی دی.( یعنې فقط هلته پرېکیدونکی دی، چیرته چې ماتلاندې یا مخرج صفرځیونه لري، ځکه چې هلته تابع تعریف نه ده).

د طبیعي پوهنو ټولګیزې یا کلاسیکي څېړنو لپاره باورلري: طبیعت ټوپونه نه وهي.

د وخت سره د نباتاتو او نورو ژوندیو وده.

له دې امله ټولې طبیعي پیښې ناپریکیدونکې یا متمادي ځغلي.په یوه بخار دیګ کې د تودوخې جګوالی.

پرېکیدونکې یا نامتمادي(ټوپدوله) تغیرات هم شته لکه د پوست قیمت جګیدل یا د شیانو په نرخ کې ارزاني.

د ناپرېکیدنوالي یا متمادیت شمیرپوهنیز تعریف یاپیژند:

د $f(x)$ تعریفدېرئ یا ـسټ دې $D_f$ وي او ارزښتدېرئ یئ $W_f$ .

تابع $f(x)$ د $x = x_0$ په ځای کې د $x_0 \in D_f$ سره ټیک هلته ناپرېکیدونکې یا متمادي ده، که

← تابع ارزښت $f(x_0)$ شتون لري، دا په دې معنا چې $f(x_0) \in W_f$ ،

← د $x = x_0$ لپاره د $f(x)$ پوله ارزښت شتون لري

او د یوه ټاکلي عدد $g$ سره برابر دی او که

← $f(x_0) = g$ باور ولري.

که له دې شرایطو فقط یو هم پوره نه وي، نو بیا تابع $f(x)$ د $x = x_0$ په ځای کې پرېکیدونکې یا نامتمادي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مشتقوړوالی(رابیلیدوړوالی)

موږ لومړی د یوه فنکشن مشتقوړوالی فقط لیدنیز راوړو

بیلګه: د لومړی مشتق د $x_0$ په ځای
کې د فنکشن جګوالی راکوي، چې د
فنکشن ګراف په ټکي $P_0 ( x_0 | y_0 )$
کې لمسوي ا و له دې سره په همدې
وخت کې په ټکي $P_0 ( x_0 | y_0 )$
کې د فنکشنګراف جګوالی دی.
سرې د فنکشن جګیدنه هم وایي.
له دې لاس ته راوړنو سره تابع د $x_0$
په ځای کې تیک هلته مشتقوړده، که
یو یواځنی جګوال شتون ولري




د $x_0$ په ځای کې د یوه فنکشن مشتقوړوالي شرطونه:
فنکشن باید د$x_0$ په ځای کې ناپرېکیدونکي وي.

دا شرط اړین دی مګر نه پوره کیدونکی، لکه چې لاندي بیلګه بنایي.

بیلګه: دا ترڅنګ ځیرونه(فنکشن) د د فنکشن
د ګراف$f(x)$

| | |
|---|---|
| $f(x) = \begin{cases} x^2 + 2x - 1 \\ x^2 - 6x + 7 \end{cases}$ | د $x<1$ لپاره<br>د $x\geq1$ لپاره |

سره بنایي.

په ټکي $(1,2)$ کې یواځنی تانجنت شتون نه لري

$$t_1(x) = 4x - 2$$

$$t_2(x) = -4x + 6$$



(c) ketabton.com: The Digital Library



بیلګه: فنکشن $f(x)$ په $x = 1$ کې متمادي یا ناپرېکیدونکی دی، هلته ټوپ نه شته.

مګر موږ په ټکي $P(\ 1 \mid 2\ )$ کې دوه مختلف تانجنتونه لرو. دا په دې معنا چې د $x = 1$ لپاره هم دوه مختلف د تانجنتونو جګوالی لرو، یعني دوه مشتقونه یا رابیلیدني.

دا په دې معنا مشتقفنکشن په $x = 1$ ځای کې یواځنی نه دی.

دا په ځان پسې لري، چې فنکشن $f(x)$ په $x = 1$ ځای کې مشتقوړ نه دی.

## لیدنیز یا د لیدلو له مخې دا په دې معنادی چې:

یو فنکشن $f(x)$ د $x_0$ په ځای کې مشتقوړ یا رابیلیدوړدی، که په دې ځای کې یې مشتق یا رابیلیدنه یواځنی وي، یعني ټیک یو تانجنت شتون ولري.

سرېی دا هم ویلی شي، هغه ځای کې چې ګراف څوکه ولري یا را مات شوی یعني ګوډ ولري( را مات وي) ، فنکشن وشتقوړ نه دی.

په څټ (برعکس) دا د ناپرېکیدني یا متمادیت لپاره په دې معنادی:

که فکشن د $x_0$ په ځای کې مشتقوړ وي، نو دا هلته ناپرېکیونکی یا متمادي هم دی.

نورې






(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړه فنکشنونه، که غوتړی توابع، د  په ځای کې مشتقوړ نه دي، ځکه چې دا هلته تعریف نه دي یا پیژند نه لري.

| | |
|---|---|
|  د $x_0$ په ځای کې فنکشن په حقیقت کې ناپرېکیدونکی دی، مګر مشتقوړ نه دی( ګود لري یا مات دی) | $u(x) := \|x - 2\| + 1$  د$x_0$  په ځای کې په حقیقت کې یا په رینتیني ناپرېکیدونکی یا متمادي دی، مګر مشتق  نه شته ( څوکه) |

د مشتقوړوالي شمیرپوهنیز پیژند یا تعریف:

| | |
|---|---|
| ښی ناپرېکیدونکي پوله | کینه ناپرېکیدونکي پوله |
| د کمښتوېش فنکشن | د کمښتوېش فنکشن |
| $\lim\limits_{x \to x_0} \dfrac{f(x) - f(x_0)}{x - x_0}$ für $x > x_0$ | $\lim\limits_{x \to x_0} \dfrac{f(x) - f(x_0)}{x - x_0}$ für $x < x_0$ |

که د کین اړخ او د ښي اړخ کمښتوېش فنکشنونه سره برابر وي، نو $f(x)$ د $x_0$ په ځای کې مشتقوړ دی.

بیا نو یو مشتق$f'(x_0)$  شتون لري ، د تانجنت جګوالی د ګراف په ټکي( $x_0;\ f(x_0)$ ) کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انتيګرالوړوالی:

تابع انتيګرالوړ دی، که دا لږ تر لږه ټوټه ډېرله يا ټوټه په ټوټه متمادي يا ناپرېکيدونکی وي.

بېلګه:

کربنه شوې سطحه دې پيدا شي

$$A = A_1 + A_2 + A_3$$

$$= \int_0^a f_1(x)\,dx + \int_a^b f_2(x)\,dx + \int_b^c f_3(x)\,dx$$




د درې ګوډي يا مثلث سطحه غواړو پيدا کړو.

$$f(x) = \begin{cases} f_1(x) = x \text{ für } (0 \le x < 3) \\ f_2(x) = -x + 6 \text{ für } (3 \le x \le 6) \end{cases}$$



(c) ketabton.com: The Digital Library



$$A = \int_0^6 f(x)\,dx = \int_0^3 f_1(x)\,dx + \int_3^6 f_2(x)\,dx$$

$$= \int_0^3 x\,dx + \int_3^6 (-x+6)\,dx = \frac{x^2}{2}\Bigg|_0^3 + \left[-\frac{x^2}{2}+6x\right]_3^6$$

$$= \frac{3^2}{2} - \frac{0^2}{2} + \left[\left(-\frac{6^2}{2}+6\cdot 6\right) - \left(-\frac{3^2}{2}+6\cdot 3\right)\right] = \underline{\underline{9\,FE}}$$

(پورته FE د سطحې یوون یا واحد)

سره له دې ې تابع د P ( 3 | 3 ) په ځای کې مشتقوړ یا رابیلیدوړ نه دی، کیدی شي سطحه له دوه برخ –انتیګرالونو پیدا شي.

## توابع، چې بې د بدلون له لارې حل کیږي لکه لاندې بلګه:

بیلګه:

عواړو د $f(x)=e^x$ مشتق پیدا کړو. دا مشتق په ساده ډول پیدا کولي شو، یعنې لرو:

$$f(x)=e^x \Rightarrow F(x)=\int f(x)dx = \int e^x dx = e^x + C$$

ګورو، چې $F'(x)=e^x=f(x)$ دی.

که ولرو: $f(x)=e^{2x}$ او د پورته په څیر لاړ شو، نو لاس ته به ترې راشي:

$$f(x)=e^{2x} \Rightarrow F(x)=\int f(x)dx = \int e^{2x} dx \neq e^{2x} + C$$

**وي** $F(x)=e^{2x}+C$ **دی، که** $F'(x)=2e^{2x} \neq f(x)$

له دې امله د بدلون قانون ته اړیو:

## د ناټاکلو انتیګرالونو حل د بدلون له لارې

تراوسه مو فقط د هغو انتیګرالونو پوښتني ځواب کړې، چې د اده توابعو مشتق باندې بیرته اړول کیده. دا سې له دې لارې لاسته رغلي بنسټ انتیګرالونو د نورو ټول حلونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنسټ کیښود. د بنسټ انتیګرالونو کارونه یا استعمال تل شونی نه دی، لکه لاندې بیلګه چې ښایي.

بیلګه: د $f(x)=e^{2x}$ تابع انتیګرال ونیسئ

$$f(x)=e^{2x} \Rightarrow F(x)=\int f(x)dx=\int e^{2x}dx=?$$

بدلون: $u(x)=2x=u$

جوړ کړئ: $u'(x)=\frac{du}{dx}=2 \Rightarrow dx=\frac{du}{2}$

$$\int f(x)dx=\int e^{u}\frac{du}{2}=\frac{1}{2}\int e^{u}du=\frac{1}{2}e^{u}+C$$

د بدلون برعکس: $\frac{1}{2}e^{u}+C=\frac{1}{2}e^{2x}+C$

نو لرو: $F(x)=\int(x)dx=\int e^{2x}dx=\frac{1}{2}e^{2x}+C$

ازمایښت: $F(x)=\frac{1}{2}e^{2x}+C \Rightarrow F'(x)=\frac{1}{2}e^{2x}\cdot 2=e^{2x}=f(x)$

بیلګه: وښایی چې باور لري.

$$f(x)=(x+1)^2 \Rightarrow F(x)=\int f(x)dx=\int(x+1)^2dx.$$

بدلون $u(x)=x+1=u$ جوړ کړی

$$u'(x)=\frac{du}{dx}=1 \Rightarrow dx=\frac{du}{1}$$

$$\int f(x)dx=\int u^2\frac{du}{1}=\int u^2du=\frac{u^3}{3}+C$$

بیرته- یا په څټ بدلون: $\frac{u^3}{3}+C=\frac{(x+1)^3}{3}+C$

نو: $\int(x)dx=\int(x+1)^2dx=\frac{(x+1)^2}{3}+C$

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیلګه :

و ښایي چې باور لري:

$$f(x)=(3x+6)^3 \Rightarrow F(x)=\int f(x)dx=\int(3x+6)^3dx$$

بدلون: $u(x)=3x+6=u$

جوړوو: $u'(x)=\frac{du}{dx}=3 \Rightarrow dx=\frac{du}{3}$

$$\int f(x)dx=\int u^3\frac{du}{3}=\frac{1}{3}\int u^3du=\frac{u^4}{12}+C$$

بېرته بدلون: $\frac{u^4}{12}(3x+6)^4+C$

نو لرو: $\int(x)dx=\int(3x+6)^3dx=\frac{1}{12}(3x+6)^4+C$

بیلګه :

$$f(x)=x\cdot\ln\left(x^2\right)\Rightarrow F(x)=\int f(x)\,dx=\int\left(x\cdot\ln\left(x^2\right)\right)dx=?$$

بدلون : $u(x)=x^2=u$

جوړوو: $u'(x)=\frac{du}{dx}=2x\Rightarrow dx=\frac{1}{2x}du$

$$\int f(x)\,dx=\int x\cdot\ln(u)\cdot\frac{1}{2x}\,du=\frac{1}{2}\int\ln(u)\,du=\frac{1}{2}\left[u\cdot\ln(u)-u+C\right]=\frac{1}{2}u\cdot\ln(u)-\frac{1}{2}u+C$$

بېرته بدلون: $\frac{1}{2}u\cdot\ln(u)-\frac{1}{2}u+C=\frac{1}{2}x^2\cdot\ln\left(x^2\right)-\frac{1}{2}x^2+C$

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو لرو: $\int (x)\,dx = \int \left(x \cdot \ln\left(x^2\right)\right) dx = \frac{1}{2}x^2 \cdot \ln\left(x^2\right) - \frac{1}{2}x^2 + C$

## د ټاکلو انتیګرالونو حل د بدلون له لارې:

ټاکلي انتیګرالونه هم د بدلون له لارې حل کیږي.

بیلګه :

**وښایاست:**

$$f(x) = e^{2x} \quad \Rightarrow F(x) = \int_{-1}^{1} e^{2x}dx$$

د انتیګرال حل د بدلون له لارې:

۱ – بدلون $u(x) = 2x$

۲ – د dx په ځای کیږدی

$$u'(x) = \frac{du}{dx} = 2 \quad \Rightarrow dx = \frac{1}{2}du$$

۳ – د پولو بدلون

- لاندې پوله $u(-1) = -2$

- پورته پوله $u(1) = 2$

۴ - په انتیګرال کې ځا په ځای کړی

$$\frac{1}{2}\int_{-2}^{2} e^u du = \frac{1}{2}\left[e^u\right]_{-2}^{2} = \frac{1}{2}\left[e^2 - e^{-2}\right] = \underline{\underline{3.627}}$$

$f(x) := e^{2\cdot x}$




بیلګه :

$$f(x) = 2x \cdot \ln(x^2) \quad \Rightarrow F(x) = \int_{1}^{2} 2x \cdot \ln(x^2)dx$$

د انتیګرال حل د بدلون له لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ – بدلون $u(x)=x^2$

۲ – د ځای په په ځای کونه

$$u'(x)=\frac{du}{dx}=2x \quad \Rightarrow dx=\frac{1}{2x}du$$

۳ – د پولې بدلون

- لاندې پوله $u(1)=1$
- پورته پوله $u(2)=4$

۴ – په انتیګرال کې ځای په ځای کړی

$$\int_1^4 2x\cdot\ln(u)\cdot\frac{1}{2x}du=\int_1^4 \ln(u)du=[u\cdot\ln(u)-u]_1^4$$

$$=[4\cdot\ln(4)-4]-[1\cdot\ln(1)-1]\approx \underline{\underline{2.545}}$$

$$f(x) := 2x\cdot\ln(x^2)$$




بیلګه :

| | |
|---|---|
| د $x<2$ له پاره<br>د $x\geq 2$ له پاره | $f(x)=\begin{cases} e^x-2 \\ (e^2-2)e^{-(x-2} \end{cases}$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library






$$A = \underbrace{\int_1^2 \left(e^x - 2\right) dx}_{I_1} + \underbrace{\int_2^4 \left(e^2 - 2\right) e^{-(x-2)}\, dx}_{I_2}$$

$$I_1 = \int_1^2 \left(e^x - 2\right) dx = \left[e^x - 2x\right]_1^2 = e^2 - e - 2$$

$$I_2 = \left(e^2 - 2\right) \int_2^4 e^{-(x-2)}\, dx$$

$$u(x) = -(x-2) = -x + 2$$

$$\frac{du}{dx} = -1 \Rightarrow dx = -du\,;\ u(2) = 0\,;\ u(4) = -2$$

$$I_2 = -\left(e^2 - 2\right) \int_0^{-2} e^u\, du = \left(e^2 - 2\right) \int_{-2}^{0} e^u\, du$$

$$= \left(e^2 - 2\right) \cdot \left[e^u\right]_{-2}^{0} = e^2 + 2e^{-2} - 3$$

$$I = I_1 + I_2 = e^2 - e - 2 + e^2 + 2e^{-2} - 3 = \underline{\underline{7{,}331}}$$

## Partialy Integration تو ته انتيګرالونه

توته انتيګرالونه، چې ضرب انتيګرالونه هم بلل کيږي، په انتيګرالشميرنه کې د لومړنيو توابعو ټاکلو يا شميرلو لپاره امکان دی. دا کيدی شي د مشتقشميرنې د برعکسکونی په څير وکتل شي.

د توته انتيګرالونې له پاره لاندې قانون کارول کيږي، چې د متمادي ( نه پرېکيدونکي) توابعو $f$ او $g$ له پاره باور لري:.

$$\int_a^b f(x)\cdot g'(x)\,\mathrm{d}x = \left[f(x)\cdot g(x)\right]_a^b - \int_a^b f'(x)\cdot g(x)\,\mathrm{d}x.$$

دا قانون ټيک هلته ګټور دی، که د $f$ مشتقنيولو سره يو ساده تابع منځ ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ضرب قانون ( د ضرب مشتقنیونې) څخه لرو:

$$(u \cdot v)' = u' \cdot v + u \cdot v'$$

$$u' \cdot v = (u \cdot v)' - u \cdot v'$$

له دې څخه لاس ته راځي:

$$\int u' \cdot v = \int (u \cdot v)' - \int u \cdot v'$$

$$\int u' \cdot v = u \cdot v - \int u \cdot v'$$

په دې پسې د ټاکلي انتیګرال لپاره باور لري:

$$\int_a^b f(x) \cdot g'(x)\,\mathrm{d}x = f(b) \cdot g(b) - f(a) \cdot g(a) - \int_a^b f'(x) \cdot g(x)\,\mathrm{d}x$$

یا همدغسې، لکه په زیاتو ریاضي کتابونو کې چې پیداکیږي.

$$\int_a^b f(x) \cdot g'(x)\,\mathrm{d}x = [f(x) \cdot g(x)]_a^b - \int_a^b f'(x) \cdot g(x)\,\mathrm{d}x.$$

د دې مخ ته حدونو یا ترمونو لپاره ګټور دی، چې لومړی ځان په ناټاکلي انتیګرال محدود کړو، چې دا نا اړینو حدونو څخه چې لید مو رابندوي، ازاد یو.

بیلګه:
د بیلګې په توګه لاندی انتیګرال شمیرو.

$$\int x \cdot \ln(x)\,\mathrm{d}x$$

یو ساده انتیګرالیدونکې تابع $g'(x)$ او همداسی یو ساده مستقکیدونکي تابع $f(x)$ لټوو.
نیسو چې $f(x) = \ln(x)$ او $g'(x) = x$ ، ځکه چې د $\ln(x)$ انتیګرالونه نوې راکوي. اوس د $f(x)$ مشتق نیسو)مشتق کوو) او انتیګرالوو، نو لرو:

$$f'(x) = \frac{1}{x} \text{ او } g(x) = \frac{x^2}{2}.$$

له دې څخه اوس دالاندې فرمول لاس ته راځي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\int x \cdot \ln(x)\,\mathrm{d}x = \frac{x^2}{2} \cdot \ln(x) - \int \frac{x^2}{2} \cdot \frac{1}{x}\,\mathrm{d}x = \frac{x^2}{2} \cdot \ln(x) - \frac{x^2}{4}$$

بدیل لیکبنه:

اوس دیَ u اوv په خوبنه توابع وي.U او V دې د u اوV لومړني توابع وي ، او همداسې دې u' او v' دu او v مشتقونه وي.

$u$ تابع ده، چې د مشتق نیولو له پاره لومړیتوب لري، $v$ تابع ده چې د انتیګرالونې له پاره لومړیتوب لري. نو باورلري:

$$\int_a^b u(x) \cdot v(x)\,\mathrm{d}x = u(b) \cdot V(b) - u(a) \cdot V(a) - \int_a^b u'(x) \cdot V(x)\,\mathrm{d}x$$

$$= [u(x) \cdot V(x)]_a^b - \int_a^b u'(x) \cdot V(x)\,\mathrm{d}x$$

## ټوټه انتیګرالونې لار( طریقې)

د ټوټه انتیګرالونې ګټور استعمال له پاره مختلف معیاري چلول شته.

بیلګه :

کله کله کیدی شي ګټور وي، جی د مساوات بنیٰ لور ته ټوټه انتیګرال د څو واره انتیګرالونې وروسته بیرته راوګرځي، چې د په ورته بڼه د اصلي یا پخواني کېڼ لور انتیګرال سره یوځای کولی شو.

$$\int \sin(x) \cdot \cos(x)\,\mathrm{d}x$$

که کېږدو f(x) = cos(x) او g'(x) = sin(x) ، نو ترې لرو:

$$f'(x) = -\sin(x) \text{ او } g(x) = -\cos(x)$$

او لاس ته ترې راځي

$$\int \sin(x) \cdot \cos(x)\,\mathrm{d}x = [-\cos^2(x)] - \int \sin(x) \cdot \cos(x)\,\mathrm{d}x.$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دواړو لورو ته وتون انتیگرال ورزیات کړو، نو راکوي:

$$2\int \sin(x)\cdot\cos(x)\,\mathrm{d}x = -\cos^2(x)$$

که واړه لورې په 2 وویشل شي، نو بالاخره لاس ته ترې راځي:

$$\int \sin(x)\cdot\cos(x)\,\mathrm{d}x = -\frac{1}{2}\cdot\cos^2(x) + C$$

بیلگه ۲ :

د ځنو انتیگرالونو سره داسي لاس ته راوړنه لرو، چي: که د g'(x) له پاره یو ترم وټاکو چي په انتیگرالونې کې هیڅ یا کو تغیر خوري، لکه د بېلگې په توگه اکسپوننشل تابع او یا مثلثاتي توابع. نو کیدی شي دا بل ترم ،،له منځه یوورل شي،،.

$$\int e^x\cdot(2-x^2)\,\mathrm{d}x$$

که هر ځل ex = g'(x) کیږدو او د f(x) له پاره، د انتیگرال لاندی ترم ، نو ترې لاس ته راځي:

$$\begin{aligned}\int e^x\cdot(2-x^2)\,\mathrm{d}x &= [e^x\cdot(2-x^2)] - \int e^x\cdot(-2x)\,\mathrm{d}x\\ &= [e^x\cdot(2-x^2)] + [e^x\cdot 2x] - \int 2\cdot e^x\,\mathrm{d}x\\ &= [e^x\cdot(2-x^2)] + [e^x\cdot 2x] - [2\cdot e^x]\\ &= [e^x\cdot(2-x^2+2x-2)]\\ &= [e^x\cdot(2x-x^2)] + C\end{aligned}$$

بیلگه ۳ :

که له انتیگرال لاندي فقط یو ترم ولرو، چي د هغه لومړنی تابع بې له جدول ارزښت ځخه پاي ته نه رسیږي(نه پایول کیږي)(نه ختمیږي) کیدی شي کله کله د ورزیاتونې له لارې(ناڅرگند شته) ضریب "1" توته انتیگرال شي.

$$\int \ln(x)\,\mathrm{d}x = \int 1\cdot\ln(x)\,\mathrm{d}x = \int g'(x)\cdot\ln(x)\,\mathrm{d}x$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................................

که $f(x) = \ln(x)$ او $g'(x) = 1$ کیږدو، نو لاس ته ترې راوړی شو

$$\int 1 \cdot \ln(x)\,\mathrm{d}x = x \cdot \ln(x) - \int x \cdot \frac{1}{x}\,\mathrm{d}x$$
$$= x \cdot \ln(x) - \int 1\,\mathrm{d}x$$
$$= x \cdot \ln(x) - x + C$$

.

جمله :

مورږ د دې لاندې انتیګرال نیسو: $\int x\cos(x)\,dx$

ږدو $u = x$ ، نو لرو : $du = dx$

ږدو $dv = \cos(x)\,dx$ ، نو $v = \sin(x)$ لرو

په لاندې توګه مخ ته ځو:

$$\int x\cos(x)\,dx = \int u\,dv$$
$$= uv - \int v\,du$$
$$= x\sin(x) - \int \sin(x)\,dx$$
$$= x\sin(x) + \cos(x) + C.$$

C د انتیګرالونې یوه په خوښه ثابته ده

د تړته انتیګرالونې د استعمال سره د انتیګرالونو لکه

$$\int x^2 e^x\,dx \quad \text{او} \quad \int x^3 \sin(x)\,dx$$

کیده شي په همدې لار حل شي:

یوه په زړه پورې بیلګه دا لاندې ده :

$$\int e^x \cos(x)\,dx$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



که په پوره کره والي ونیسو، نو په ورسره بلده لار اړین نه دی، چې دا دې حل ولري.

دا بېلګه د دوه واره ټوټه انتیګرالوني استعمال له لارې حل کولی شو.

لومړی : $u = \cos(x)$ داسې چې $du = -\sin(x)\,dx$

$dv = e^x\,dx$ داسې چې $v = e^x$

نو لرو :

$$\int e^x \cos(x)\,dx = e^x \cos(x) + \int e^x \sin(x)\,dx.$$

اوس ، ددې له پاره چې پاتې انتیګرال حل شي، نو د ټوټه انتیګرالوني قاعده بیا استعمالوو ، د دې لاندې سره :

$u = \sin(x);\ du = \cos(x)\,dx$

$v = e^x;\ dv = e^x\,dx$

نو لرو :

$$\int e^x \sin(x)\,dx = e^x \sin(x) - \int e^x \cos(x)\,dx$$

که دا سره یوځای کړو، نو لاس ته راځي:

$$\int e^x \cos(x)\,dx = e^x \cos(x) + e^x \sin(x) - \int e^x \cos(x)\,dx.$$

که فکر وکړو، نو پورته مساوات دواړو لورو ته همغه انتیګرال لرو(بې له مخ نخښې)، نو د ښي لور انتیګرال که کیڼ لور ته یوسو ، لاس ته ترې راځي:

$$2\int e^x \cos(x)\,dx = e^x(\sin(x) + \cos(x)) + C$$

$$\int e^x \cos(x)\,dx = \frac{e^x(\sin(x) + \cos(x))}{2} + C'$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



C د انتیګرالونې یوه په خوښه ثابته ده

د کور کار:

انتیګرال د بدلون له لارې د لاندې انتیګرالونو ځوابونه، همداسې شمیرنه

لومړی: $\int \frac{3}{4x+1}\,dx$ دویم: $\int_0^2 \frac{4}{4-x}\,dx$

دریم: $\int \frac{2}{(1-x)^2}\,dx$ څلورم: $\int \frac{6}{(2x-1)^3}\,dx$

پنځم: $\int_{-2}^{2} \frac{10}{(x-4)^5}\,dx$ شپږم: $\int_{-2}^{2} e^{1-x}\,dx$

اووم: $\int_0^4 e^{\frac{1}{2}x}\,dx$ اتم: $\int_1^2 e^{4-2x}\,dx$

نهم: $\int_1^2 \frac{4}{e^{2x-4}}\,dx$ لسم: $\int_0^2 \left(x-1-e^{-\frac{1}{2}x}\right)dx$

## ځوابونه

انتیګرال د ساده بدلون له لارې

نتیجې: لومړی:

$$\int \frac{3}{4x+1}\,dx = \frac{3}{4}\cdot \ln(4x+1) + C$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم:
$$\int_{0}^{2}\frac{4}{4-x}\,dx = 4\cdot\ln(4)-4\cdot\ln(2) = 4\cdot\ln(2) \approx 2{,}773$$

دزیم:
$$\int\frac{2}{(1-x)^2}\,dx = \frac{2}{1-x}+C$$

څلورم:
$$\int\frac{6}{(2x-1)^3}\,dx = -\frac{3}{2}\cdot\frac{1}{(2x-1)^2}+C$$

پنځم:
$$\int_{-2}^{2}\frac{10}{(x-4)^5}\,dx = -\frac{5}{2}\left[\frac{1}{16}-\frac{1}{1296}\right] = -\frac{25}{162} \approx -0{,}154$$

شپږم:
$$\int_{-2}^{2}e^{1-x}\,dx = e^3-e^{-1} \approx 19{,}718$$

اووم:
$$\int_{0}^{4}e^{\frac{1}{2}x}\,dx = 2\cdot e^2-2\cdot e^0 = 2\cdot e^2-2 \approx 12{,}778$$

اتم:
$$\int_{1}^{2}e^{4-2x}\,dx = \frac{1}{2}\cdot e^2-\frac{1}{2}\cdot e^0 = \frac{1}{2}\cdot e^2-\frac{1}{2} \approx 3{,}195$$

نهم:
$$\int_{1}^{2}\frac{4}{e^{2x-4}}\,dx = 2\cdot e^2-2\cdot e^0 = 2\cdot e^2-2 \approx 12{,}788$$

لسم:
$$\int_{0}^{2}\left(x-1-e^{-\frac{1}{2}x}\right)dx = -2\cdot e^0-\left(-2\cdot e^{-1}\right) = -2+2\cdot e^{-1} \approx -1{,}264$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځوابونه

انتيګرال د ساده بدلون له لارې

مفصل ځوابونه

لومړی:

$$\int \frac{3}{4x+1}\,dx \qquad \text{Substitution: } u = 4x+1 \qquad \frac{du}{dx} = 4 \Rightarrow dx = \frac{1}{4}du$$

$$\frac{3}{4}\int \frac{1}{u}\,du = \frac{3}{4}\cdot \ln(u) + C$$ د $u = 4x+1$ سره

$$\int \frac{3}{4x+1}\,dx = \frac{3}{4}\cdot \ln(4x+1) + C$$

دويم:

$$\int_0^2 \frac{4}{4-x}\,dx \qquad \text{Substitution: } u = 4-x$$

$$\frac{du}{dx} = -1 \Rightarrow dx = -du$$ لاندې پوله $u(0) = 4$ پورته پوله $u(2) = 4-2 = 2$

$$-4\int_4^2 \frac{1}{u}\,du = 4\int_2^4 \frac{1}{u}\,du = \left[4\cdot \ln(u)\right]_2^4 = 4\cdot \ln(4) - 4\cdot \ln(2)$$

$$= 4\left[\ln(4) - \ln(2)\right] = 4\cdot \ln\left(\frac{4}{2}\right) = 4\cdot \ln(2) \approx 2{,}773$$

درېيم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\int \frac{2}{(1-x)^2}\,dx \qquad \text{Substitution: } u = 1-x \qquad \frac{du}{dx} = -1 \Rightarrow dx = -du$$

$$-2\int \frac{1}{u^2}\,du = -2\int u^{-2}\,du = -2\cdot\frac{1}{-1}\cdot u^{-1} = \frac{2}{u}$$

د u=1-x سره

$$\int \frac{2}{(1-x)^2}\,dx = \frac{2}{1-x} + C$$

څلورم:

$$\int \frac{6}{(2x-1)^3}\,dx \qquad \text{Substitution: } u = 2x-1 \qquad \frac{du}{dx} = 2 \Rightarrow dx = \frac{1}{2}du$$

$$\frac{6}{2}\int \frac{1}{u^3}\,du = 3\int u^{-3}\,du = 3\cdot\frac{1}{-2}\cdot u^{-2} = -\frac{3}{2}\cdot\frac{1}{u^2}$$

د U=2x-1 سره

$$\int \frac{6}{(2x-1)^3}\,dx = -\frac{3}{2}\cdot\frac{1}{(2x-1)^2} + C$$

پنځم:

$$\int_{-2}^{2} \frac{10}{(x-4)^5}\,dx \qquad \text{Substitution: } u = x-4 \qquad \frac{du}{dx} = 1 \Rightarrow dx = du$$

لاندې پوله $u(-2) = -2-4 = -6$ پورته پوله $u(2) = 2-4 = -2$

$$10\int_{-6}^{-2} \frac{1}{u^5}\,du = 10\int_{-6}^{-2} u^{-5}\,du = \left[10\cdot\frac{1}{-4}\cdot u^{-4}\right]_{-6}^{-2} = -\frac{5}{2}\cdot\left[\frac{1}{u^4}\right]_{-6}^{-2}$$

$$= -\frac{5}{2}\left[\frac{1}{16} - \frac{1}{1296}\right] = -\frac{25}{162} \approx -0{,}154$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږم:

$$\int_{-2}^{2} e^{1-x}\,dx \qquad \text{Substitution: } u = 1-x \qquad \frac{du}{dx} = -1 \Rightarrow dx = -du$$

لاندې پوله $u(-2) = 1-(-2) = 3$ پورته پوله $u(2) = 1-2 = -1$

$$-\int_{3}^{-1} e^{u}\,du = \int_{-1}^{3} e^{u}\,du = \left[e^{u}\right]_{-1}^{3} = \underline{\underline{e^{3} - e^{-1} \approx 19{,}718}}$$

اووم:

$$\int_{0}^{4} e^{\frac{1}{2}x}\,dx \qquad \text{Substitution: } u = \frac{1}{2}x \qquad \frac{du}{dx} = \frac{1}{2} \Rightarrow dx = 2du$$

لاندې پوله u(0)=0 پورته پوله u(4)=2

$$2\int_{0}^{2} e^{u}\,du = 2\left[e^{u}\right]_{0}^{2} = 2\cdot e^{2} - 2\cdot e^{0} = \underline{\underline{2\cdot e^{2} - 2 \approx 12{,}778}}$$

اتم:

$$\int_{1}^{2} e^{4-2x}\,dx \qquad \text{Substitution: } u = 4-2x \qquad \frac{du}{dx} = -2 \Rightarrow dx = -\frac{1}{2}du$$

لاندې پوله u(1)=4-2=2 پورته پوله u(2)=4-4=0

$$-\frac{1}{2}\int_{2}^{0} e^{u}\,du = \frac{1}{2}\int_{0}^{2} e^{u}\,du = \left[\frac{1}{2}e^{u}\right]_{0}^{2} = \frac{1}{2}\cdot e^{2} - \frac{1}{2}\cdot e^{0} = \underline{\underline{\frac{1}{2}\cdot e^{2} - \frac{1}{2} \approx 3{,}195}}$$

نهم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\int_1^2 \frac{4}{e^{2x-4}}\,dx = 4\int_1^2 e^{4-2x}\,dx \qquad \text{Substitution: } u = 4-2x \qquad \frac{du}{dx} = -2 \Rightarrow dx = -\frac{1}{2}du$$

لاندې پوله $u(1) = 4-2 = 2$ پورته پوله $u(2) = 4-4 = 0$

$$-4\cdot\frac{1}{2}\int_2^0 e^u\,du = 2\int_0^2 e^u\,du = \left[2e^u\right]_0^2 = 2\cdot e^2 - 2\cdot e^0 = \underline{\underline{2\cdot e^2 - 2 \approx 12{,}788}}$$

لسم:

$$\int_0^2 \left(x - 1 - e^{-\frac{1}{2}x}\right) dx = \int_0^2 (x-1)\,dx - \int_0^2 e^{-\frac{1}{2}x}\,dx$$

$$\text{1. Integral: } \int_0^2 (x-1)\,dx = \left[\frac{1}{2}x^2 - x\right]_0^2 = \frac{1}{2}\cdot 4 - 2 - (0) = 0$$

$$\text{2. Integral: } -\int_0^2 e^{-\frac{1}{2}x}\,dx \qquad \text{Substitution: } u = -\frac{1}{2}x \qquad \frac{du}{dx} = -\frac{1}{2} \Rightarrow dx = -2du$$

لاندې پوله $u(0) = 0$ پورته پوله $u(2) = -\frac{1}{2}\cdot 2 = -1$

$$= (-1)(-2)\int_0^{-1} e^u\,du = 2\int_0^{-1} e^u\,du = -2\int_{-1}^0 e^u\,du = \left[-2e^u\right]_{-1}^0$$

$$= -2\cdot e^0 - \left(-2\cdot e^{-1}\right) = \underline{\underline{-2 + 2\cdot e^{-1} \approx -1{,}264}}$$

## د ټوټه انټیګرالونو لپاره څو نوربڅ بیلګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چیرته د دوه توابعو انتیګرال غواړو وشمیرو، نو په زیاتو حالتونو کې دا تراوسه روښانه یا معلومه د انتیګرال لار مو بریا ته نه بیایي.

$$f(x) = x \cdot \ln\left(x^2\right) \Rightarrow F(x) = \int f(x)\,dx = \int\left(x \cdot \ln\left(x^2\right)\right) dx = ?$$

Substitution: $u(x) = x^2 = u$

جوړوو: $u'(x) = \frac{du}{dx} = 2x \Rightarrow dx = \frac{1}{2x} du$

$$\int f(x)\,dx = \int x \cdot \ln(u) \cdot \frac{1}{2x}\,du = \frac{1}{2}\int \ln(u)\,du = \frac{1}{2}\left[u \cdot \ln(u) - u + C\right] = \frac{1}{2}u \cdot \ln(u) - \frac{1}{2}u + C$$

د بدلون په بیرته په څټ: $\frac{1}{2}u \cdot \ln(u) - \frac{1}{2}u + C = \frac{1}{2}x^2 \cdot \ln\left(x^2\right) - \frac{1}{2}x^2 + C$

نو: $$\int (x)\,dx = \int\left(x \cdot \ln\left(x^2\right)\right) dx = \underline{\underline{\frac{1}{2}x^2 \cdot \ln\left(x^2\right) - \frac{1}{2}x^2 + C}}$$

دا انتیګرال د بدلون قانون سره حل کیدی شي، دا چې د بدلون له لارې ضریب له منځه ځي. په عادي ډول دا حالت نه دی.

$$f(x) = x \cdot \ln(x) \Rightarrow F(x) = \int f(x)\,dx = \int\left(x \cdot \ln(x)\right) dx = ?$$

دا انتیګرال د بدلون له لارې نه شي حل کیدی. موږ د صرب قانون لپاره د مشتقشمیرنې څخه یوه اینبوونې یا په ځای کونې ته وده ورکوو.

$$f(x) = u(x) \cdot v(x) \Rightarrow f'(x) = u'(x) \cdot v(x) + u(x) \cdot v'(x)$$

د ثابتې په پام کې نه نیولو له امله د دفرنځیال او انتیګرال بنسټ حملې له لارې باور لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\int f'(x)\,dx = f(x) = u(x)\cdot v(x)$$

د $f'(x) = u'(x)\cdot v(x) + u(x)\cdot v'(x)$ سره په دې پسې باید هم باور ولري

$$\int u'(x)\cdot v(x)\,dx + \int u(x)\cdot v'(x)\,dx = u(x)\cdot v(x)$$

د $\int u(x)\cdot v'(x)\,dx$ پسې د بڼه بدلون له امله راکوي:

$$\int u(x)\cdot v'(x)\,dx = u(x)\cdot v(x) - \int u'(x)\cdot v(x)\,dx$$

د $\int u'(x)\cdot v(x)\,dx$ پسې د بڼه بدلون له امله راکوي:

$$\int u'(x)\cdot v(x)\,dx = u(x)\cdot v(x) - \int u(x)\cdot v'(x)\,dx$$

د دې بڼه بدلون په ریښتوني یا حقیقت کې دا د دوه ضربیونو انتیګرال حل نه شو، مګر د u او ' v او په همدې توګه د ' u او v هوښیاره ټاکنه کیدی شي دا وینه یا افاده داسې بڼه بدل شي، چې ا نتیګرال یې کیدی شي حل شي

بیلګه ۱

$$\int \underbrace{x}_{u}\cdot\underbrace{e^x}_{v'}\,dx = u\cdot v - \int u'\cdot v\,dx$$

$$u = x \Rightarrow u' = 1$$

$$v' = e^x \Rightarrow v = \int e^x\,dx = e^x$$

$$\int x\cdot e^x\,dx = x\cdot e^x - \int 1\cdot e^x\,dx = x\cdot e^x - e^x + C = \underline{\underline{(x-1)e^x + C}}$$

بیلګه ۲

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\int \underbrace{x}_{u} \cdot \underbrace{e^{k\cdot x}}_{v'}\, dx = u\cdot v - \int u'\cdot v\, dx$$

$u = x \Rightarrow u' = 1$

د بدلون له لاې حل $v' = e^{k\cdot x} \Rightarrow v = \int e^{k\cdot x}\, dx$

$$v = \int e^{k\cdot x}\, dx$$

بدلون $u = k\cdot x \Rightarrow \frac{du}{dx} = k \Rightarrow dx = \frac{1}{k} du$

په ځت یا بیرته بدلون: $v = \int e^{k\cdot x}\, dx = \frac{1}{k} e^{k\cdot x}$

$$\int x\cdot e^{k\cdot x}\, dx = u\cdot v - \int u' v\, dx = x\cdot \frac{1}{k} e^{k\cdot x} - \int 1\cdot \frac{1}{k} e^{k\cdot x}\, dx = \frac{x}{k} e^{k\cdot x} - \frac{1}{k} \underbrace{\int e^{k\cdot x}\, dx}_{\frac{1}{k} e^{k\cdot x}}$$

$$= \frac{x}{k} e^{k\cdot x} - \frac{1}{k}\cdot\frac{1}{k} e^{k\cdot x} = \frac{x}{k} e^{k\cdot x} - \frac{1}{k^2} e^{k\cdot x} = \left(\frac{x}{k} - \frac{1}{k^2}\right) e^{k\cdot x} + C$$

بیلګه ۳ :

$$\int \underbrace{x}_{u} \cdot \underbrace{\ln(x)}_{v'}\, dx = u\cdot v - \int u'\cdot v\, dx$$

$u = x \Rightarrow u' = 1$

$v' = \ln(x) \Rightarrow v = x\cdot \ln(x) - x$

$$\int x\cdot \ln(x)\, dx = x\cdot (x\cdot \ln(x) - x) - \int 1\cdot (x\cdot \ln(x) - x)\, dx$$

$$\Leftrightarrow \int x\cdot \ln(x)\, dx = x^2\cdot \ln(x) - x^2 - \int x\cdot \ln(x)\, dx + \int x\, dx \;\Big|\; + \int x\cdot \ln(x)\, dx$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\Leftrightarrow 2\cdot\int x\cdot\ln(x)\,dx = x^2\cdot\ln(x) - x^2 + \frac{1}{2}x^2 \;|:2$$

$$\Leftrightarrow \int x\cdot\ln(x)\,dx = \frac{1}{2}x^2\cdot\ln(x) - \frac{1}{2}x^2 + \frac{1}{4}x^2 = \frac{1}{2}x^2\cdot\ln(x) - \frac{1}{4}x^2 + C \quad (x>0)$$

بیلګه ۴

$$\int \underbrace{x^2}_{u}\cdot\underbrace{e^{2x}}_{v'}\,dx = u\cdot v - \int u'v\,dx \qquad u = x^2 \Rightarrow u' = 2x \qquad v' = e^{2x} \Rightarrow v = \int e^{2x}\,dx$$

منځ شمیرنه

$$\int e^{2x}\,dx \quad \text{Substitution: } u = 2x \Rightarrow \frac{du}{dx} = 2 \Rightarrow dx = \frac{1}{2}du$$

$$\boxed{\int e^{2x}\,dx = \frac{1}{2}e^{2x}}$$ په خټ بدلون $$\Rightarrow \frac{1}{2}\int e^{u}\,du = \frac{1}{2}e^{u}$$

$$\int x^2\cdot e^{2x}\,dx = \underbrace{x^2\cdot\frac{1}{2}e^{2x}}_{u\cdot v} - \int \underbrace{2x}_{u'}\cdot\underbrace{\frac{1}{2}e^{2x}}_{v}\,dx = \frac{1}{2}x^2\cdot e^{2x} - \int x\cdot e^{2x}\,dx$$

---

$$\int \underbrace{x}_{u}\cdot\underbrace{e^{2x}}_{v'}\,dx = u\cdot v - \int u'v\,dx \qquad u = x \Rightarrow u' = 1 \qquad v' = e^{2x} \Rightarrow v = \frac{1}{2}e^{2x}$$

( پورته وګورئ)

$$\int x\cdot e^{2x}\,dx = x\cdot\frac{1}{2}e^{2x} - \int 1\cdot\frac{1}{2}e^{2x}\,dx = \frac{1}{2}x\cdot e^{2x} - \frac{1}{2}\underbrace{\int e^{2x}\,dx}_{\frac{1}{2}e^{2x}} = \frac{1}{2}x\cdot e^{2x} - \frac{1}{4}e^{2x}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\int x^2 \cdot e^{2x}\,dx = \frac{1}{2}x^2 \cdot e^{2x} - \underbrace{\int x \cdot e^{2x}\,dx}_{\frac{1}{2}x \cdot e^{2x} - \frac{1}{4}e^{2x}} = \frac{1}{2}x^2 \cdot e^{2x} - \left(\frac{1}{2}x \cdot e^{2x} - \frac{1}{4}e^{2x}\right)$$

$$= \frac{1}{2}x^2 \cdot e^{2x} - \frac{1}{2}x \cdot e^{2x} + \frac{1}{4}e^{2x} = \underline{\underline{\frac{1}{4}\left(2x^2 - 2x + 1\right)e^{2x} + C}}$$

دا بیلګه ښايي، چې په انتیګرال کې زیات وخت ډېرې تلنلارې یو په بل پسې کارول کیږي. دا چې د ټوټه انتیګرال منځنۍ پایله (لاس ته راوړنّ) زیات وخت څرګند یا معلوم دي، سړی دې دا د یوه انتګرئشن جدول په بڼه په یاد کې وساتي.

د انتیګرېشن نورې تلنلارې او تخنیکونه هم شته، چې په دې ځای کې دې ترڅېړنې لاندې دې نه نیول کیږي. د بیلګې په توګه دې ماتنسبي انتیګرېشن د ټوټه مات یا کسر ټوټه ونې په ګوته شي.

یوڅو ناټاکلي انتیګرالونه:

لومړی: $\int x^n\,dx = \frac{1}{n+1}x^{n+1} + C \quad n \in \mathbb{R} \setminus \{-1\}$

دویم: $\int \frac{1}{x}\,dx = \ln|x| + C \quad x \neq 0$

دریم : $\int e^x\,dx = e^x + C$

څلورم: $\int a^x\,dx = \frac{a^x}{\ln(a)} + C \quad a > 0;\ a \neq 1$

پنځة $\int (ax+b)^n\,dx = \frac{(ax+b)^{n+1}}{a(n+1)} + C \quad n \neq -1$

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږم: $\int \frac{1}{ax+b}\,dx = \frac{1}{a}\ln|ax+b|$

اووم: $\int x(ax+b)^n\,dx = \frac{a(n+1)x-b}{a^2(n+1)(n+2)}(ax+b)^{n+1} + C \quad n \neq -1; -2$

اتم: $\int \frac{1}{x(ax+b)}\,dx = -\frac{1}{b}\ln\left|\frac{ax+b}{x}\right| + C$

نهم: $\int \frac{x}{ax+b}\,dx = \frac{x}{a} - \frac{b}{a^2}\ln|ax+b| + C$

لسم : $\int_0^{\infty} \frac{1}{(1-x)\sqrt{x}}\,dx = 0$

یولسم: $\int e^{ax}\,dx = \frac{1}{a}e^{ax} + C$

دولسم: $\int x \cdot e^{ax}\,dx = \frac{1}{a^2}(ax-1)e^{ax} + C$

دیارلسم: $\int_{-1}^{1} a^x\,dx = \frac{a^2-1}{a \cdot \ln(a)} \quad a > 0$

څوارلسم: $\int \ln(x)\,dx = x \cdot \ln(x) - x + C \quad x > 0$

پنځلسم: $\int [\ln(x)]^2\,dx = x \cdot [\ln(x)]^2 - 2x \cdot \ln(x) + 2x + C \quad x > 0$

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپاړسم: $\int x^n \ln(x)\,dx = x^{n+1}\left(\frac{\ln(x)}{n+1} - \frac{1}{(n+1)^2}\right) + C \quad x>0;\, m \neq -1$

اولسم: $\int \frac{[\ln(x)]^n}{x}\,dx = \frac{[\ln(x)]^{n+1}}{n+1} + C \quad x>0;\, n \neq -1$

اتلسم: $\int \frac{1}{x\cdot\ln(x)} = \ln|\ln(x)| + C \quad x>1$

نولسم: $\int \frac{1}{x\cdot[\ln(x)]^n} = -\frac{1}{(n-1)\left([\ln(x)]^{n-1}\right)} + C \quad x>1;\, n \neq 1$

یوڅو ټاکلي انتیګرالونه:

لمړی: $\int_0^1 \frac{1}{\sqrt{1-x^2}}\,dx = \frac{\pi}{2}$ دویم: $\int_0^\infty \frac{1}{(1+x)\sqrt{x}}\,dx = \pi$

دریم: $\int_a^b \frac{1}{\sqrt{(x-a)(b-x)}}\,dx = \pi$ څلورم: $\int_0^a \frac{1}{\sqrt{a^2-x^2}}\,dx = \frac{\pi}{2}$

پنځم: $\int_0^\infty \frac{1}{a^2+x^2}\,dx = \frac{\pi}{2a}$ شپږم: $\int_0^\infty e^{-x^2}\,dx = \frac{1}{2}\sqrt{\pi}$

اووم: $\int_0^1 \frac{x}{\sqrt{1-x^2}}\,dx = 1$ اتم: $\int_0^a \frac{x^2}{\sqrt{ax-x^2}}\,dx = \frac{3}{8}a^2\pi$

نهم: $\int_0^\infty \frac{1}{(1-x)\sqrt{x}}\,dx = 0$ لسم: $\int_0^{2b} \sqrt{2bx-x^2}\,dx = -\frac{b^2\pi}{2}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوولسم: $\int_{-1}^{1} a^x \, dx = \frac{a^2 - 1}{a \cdot \ln(a)} \quad a > 0$ دولسم: $\int_{0}^{\infty} e^{-x} x^n \, dx = n! \quad n \in \mathbb{N}$

دیارلسم: $\int_{0}^{\infty} e^{-x^2} \, dx = \frac{1}{2}\sqrt{\pi}$ څوارلسم: $\int_{0}^{\infty} \frac{x}{e^x + 1} \, dx = \frac{\pi^2}{12}$

پنځلسم: $\int_{0}^{\infty} \frac{x}{e^x - 1} \, dx = \frac{\pi^2}{6}$ شپاړلسم: $\int_{0}^{1} \frac{\ln(x)}{x + 1} \, dx = -\frac{\pi^2}{12}$

اوولسم: $\int_{0}^{1} \frac{\ln(x)}{x - 1} \, dx = \frac{\pi^2}{6}$ اتلسم: $\int_{0}^{1} \frac{\ln(x + 1)}{x^2 + 1} \, dx = \frac{\pi}{8} \cdot \ln(2)$

نولسم: $\int_{0}^{1} \frac{\ln(x)}{x^2 - 1} \, dx = \frac{\pi^2}{8}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

## د ډاکتر ماخان شینواري چاپ شوي لیکنې:

1988 Vienna (Austria):

لومړی:

H.K. Kaiser , M. Shinwari : Aproximation compact pological algebra : contributions to general algebra 6 ; Page 117 – 122

1987 Vienna (Austria):

دویم:

H.K. Kaiser , M. Shinwari : Interpolation und Aproximation durch Polynime in Universalen Algebren . Diss . Uni. Wien

لاندې د شمیرپوهنې پښتوټول کتابونه په المان کې د ،، افغانستان کلتوري ودې ټولنه،،له خوا چاپ شوي دي

2000 Bonn (Germany):

دریم: د شمیرپوهنې ستر کتاب : د شمیرپوهنې برسیره د انجنري، فزیک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونکو او زده کوونکو لپاره ( دا کتاب په ۹۰۰ مخونو کې چاپ او دا نوې لیکنه به یې څنو ځایونو غزېدلې او څنې ځایونه ترې لرې شوي دي)

2003 Bonn (Germany):

څلورم: څمککچپوهنه( هندسه) ، په سلو زرو کې شمیرنه، د ګڼې – او کڼې د کڼې شمیرنه ، د اختمالوالي شمېرنه کتاب د ښوونځي ټولې اړتیاوې پوره کوي

2003 Bonn (Germany):

پنځم: الجبرونه ( د الجبر بنسټونه دي)

2003 Bonn (Germany):

شپږم: د شمیرپوهنې انګریزي – پښتو ډکشنري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

2003 Bonn (Germany):

اووم: د شمیرپوهنې الماني - پښتو- او پښتو الماني ډکشنري

*Mathematical dictionary German/ Pashto and Pashto/German*

2003 Bonn (Germany):

اتم: دفرنځیال برابرون ( دا کتاب په دې ځانګه کې یو پیل دی، ساده لیکل شوی)

*Differential equation Translation; An Introduction*

Bonn (Germany): 2003

نهم: د شمیر پوهنې فرمولونو ټولګه

Mathematical Formulas

2003 Bonn (Germany):

لسم: شمیرپوهنه له عربي په پښتو

1997 Bonn (Germany):

یوولسم: د افغانستان په هکله سپیني خبرې: په الما‌ن کې

،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خو

.یادونه: له ۲۰۰۰ کال دمخه ډاکتر ماخان شینواري د ،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خوا درې ساسي مجلې هم را وستلې.

د ډاکتر ماخان ،،میرې،، شینواري لیکنې او ژباړې چې په چاپیدو یې پیل کیږي

بن- المان، کابل – افغانستان ۲۰۱۲ ز ک

ژباړې:

لاندې د برینککن لیکنې چې له پرینمن ن ج ځخه ژباړل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

۱ - شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره لومړی ټوک

۲ – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دويم ټوک

۳ – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دريم ټوک

۴ - د احتمالوالي شمیرنه

۵ – احصايه يا ستاتيستيک

لاندې کتابونه د شتوتګارت د پوهنتون د استادانو د لکچرونو څخه چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپاره شوي را ژباړل شوي.

۶ – اناليزی ۱

۷ – اناليزې ۲

۸ – کرښيز الجبر

۹ - د شمیرپوهنې بنستونه

۱۰ - د فرمولونو ټولګه

۱۱ – فنکشنل اناليز

۱۲ – وکتور شمیرنه

نورې ژباړې

۱۳ – له www./grundstudium.info/linearealgebra څخه:کرښيز الجبر

۱۴ – Georg Gutenbrunner ګڼونپوهنه يا د اعدادو تيوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

زما ليکني

Bonn (Germany):

۱۵ - د شميرپوهنې ستر کتاب دويم چاپ  د پوره تغيراتو سره : دا کتاب د شميرپوهنې برخې برسيره د

انجنري، فزيک  او اقتصاد لپاره ، همداسې  د ښوونکو او زدهکوونکو لپاره پوره ګټور دی. په

کتاب کې د اړتيا سره زياتونه او کونه راغلي

۱۶ - ځمککچپوهنه  ( هندسه)  دويم چاپ د پوره تغيراتو سره

۱۷ – الجبر ښستونه دويم چاپ له تغيراتو سره

۱۸ -  ډېرۍ پوهنه يا سټ تيوري

۱۹ – د شميرپوهنې سم اند ( منطق رياضي)

۲۰ -  د يو څو شميرپوهانو ژوندليک

۲۱ – د شمير پوهنې ګډې وډې ليکنې

۲۲-   داهم ژباړه ده، خو ليکونکی يې متآسفانه راڅخه نابلد شوی: د مشتق او انتيګرال شميرنو ته

تمرينونه او اوبيونې يا حلونه يې

۲۳ – د شميرپوهنې انګريزې پښتو او عربي + درې ډکشنري

۲۴ – د شميرپوهنې پښتو انګرېزي ډکشنري

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

۲۵ – د شمیرپوهنې پښتو ډکشنري د شمیرپوهنیزو ویپونو په پښتو روښانه ونه

۲۶ - د زړه له کومې( دا هغه لیکنې دي، چې ځنې یې په نړیول جالونو کې خپرې شوي دي.)

۲۷ – د افغانستان په هکله سپیني خبرې، چې وبه غزیږي.

نوري لیکنې، چې په ژباړه یې پیل شوی، خو لا پوره نه دي

– د شتوتکارت پوهنتون لکچرنوټونو څخه ، چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپریږي:

د ګروپونو تیوري

- د ښوونځي لپاره فزیک د برینکمن لیکنه

له پنځم ټولګي څخه تر اومم ټولګي پورې ژباړل شوی ( دا چې زما دویم مسلک فزیک دی، دا لیکنې ژباړم. دا هم د دې لیکوال یوه ډېره ښه لیکنه ده، چې -د شمیرپوهنې په څیر- دلته هم زیات تمرینونه د حل یا اوبیونې سره په کې راغلي او ماته زیات ګټور برېښي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لیکوال ژوند ته لنډه کتنه

ماخان په اولني نوم میرړي شینواری د اروابنادي پستو او اروابناد نوررحمان زوي په ۱۳۲۰ ؟ ه لمریز کې د شینوارو هسکه مینه کې دې نړۍ ته سترګې راغړولي.

د هسکې میني د لومړني ښوونځي (د لومړنیو زده کوونکو څخه وو) څخه وروسته د رحمان بابا لیسه له ۱۹۵۴ تر ۱۹۶۵ پورې( ښوونځي له لومړي ټولګې پیل او د دویم ټولګې څخه ګام او پای).

د ۱۹۶۶ تر سپمتبر د کابل طب پوهنځی. له ۱۹۶۶ سپټمبر څخه د اتریش برس، چې هلته یې د شمیرپوهنې ډاکټري په پوره ستونځو تر لاسه کړه.

د۱۹۹۸۷ ش ک تر ۱۹۸۸ د فبروري تر پای د دباندنیو چارو وزارت کې مامور. د ۱۹۸۸ مارچ څخه تر ۱۹۹۲ جون پورې په بن کې د افغانستان جمهوریت سفارت شارژد افیر( صفر نه وو). له هغې وروسته په جرمني کې سیاسي پناه. له ۲۰۰۸ مارچ څخه د ۲۰۰۹ دسمبر پورې د د ریاضي څانګه کې د پوهنې وزارت درسي نساب کې دنده.

ماخان میرړي په ۱۹۷۲ کې له لرې د میرمن ښاپیرۍ سره واده شوی، چې د واده خبر ورته اتریش ته راغی. ده له میرمن ښاپیرۍ سره په ۱۹۶۳ ز ک کې کوزده کړې وه.

دوي ته لوي څښتن په اتریش ویانا کې د مای په شلم ۱۹۷۹ ز ک دوه بچیان وبخښل، چې څانګه او اباسین نومیرړي. څانګه په المان کې د پوهنتون علمي همکاره وه او د حقوقو ډاکتره ده او اباسین ملي اقتصاد او ټولنیزه سایکولوژي لوستلي.

ماخان شینواري بې کاره نه دی او لړ تر لړه له ۹۷ ۱۹ څخه همدا د کتابونو لیکلو اوو د ژباړې دنده یې په غاړه اخستې، چې خپل فکر د شونې پولې تازه ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکتر ماخان (مېړی) شینواری













د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه _ جرمني

VEREIN ZUR FORDERUNG DER
AFGHANISCHEN KULTUR E.V

د خپرونو لړ (۱۲۹)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**